# دافغانستان اسلامي جمهوریت

## دعدلیې وزارت


# رسمي جریده

## فوق‌العاده ګڼه

- د طبي تخصصي ــ علمي کادر قــانون
- د مــلکي لــوړوزده کــړو د قــانون په ځینو مــادوکــې تعــدیل اوایــزاد
- د رسنیو اوحکومت دګډې کمېټې مقرره
- دلوړوزده‌کړووزارت‌ددندودتنظیم مقرره


دخپرېدونېټه:د ۱۳۹۹هــ.ش کال د وري دمیاشتې (۷)

پرله پسې نمبر:(۱۳۷۴)


- قانون کادر علمی ــ تخصصی طبی
- تعــدیل وایــزاد دربرخی ازمــواد قــانــون تحصیلات عــالی ملکی
- مقررهٔ‌کمیتهٔ مشترک رسانه‌ها وحکومت
- مقررهٔ تنظیم وظایف وزارت تحصیلات‌عالی


تاریــخ نشر: (۷) حمل سال ۱۳۹۹ هــ.ش

نمبر مسلسل:(۱۳۷۴)

د امتیاز خاوند: د عدلیې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مهتمم: محمد جان ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰

وبسایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۴۳،٦٨) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۱۰۴) صفحه

مطبعه: پــرویــز

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، ناحیه ششم _ غرب قصر دارالامان

## د طبي تخصصي- علمي کادر د قانون د توشیح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۴۷)

نېټه: ۱۳۹۸/۱۲/۱۵

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون دځلور شپېتمې مادې د ۱۶جزء د حکم له مخې او د نهه اویایمې مادې په رعایتولو سره، د طبي تخصصي-علمي‌کادر قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۳۹۸/۱۲/۱۴ نېټې د (۱۳) ګڼې مصوبې پر بنسټ د (۵) فصلونو او (۲۴) مادو په د ننه کې تصویب شوی دی، توشېح کوم.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون کادر علمی- تخصصی طبی

شماره: (۴۷)

تاریخ: ۱۳۹۸/۱۲/۱۵

مادۀ اول:

به تأسی از حکم جزء ۱٦ مادۀ شصت و چهارم و با رعایت مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان قانون کادرعلمی- تخصصی طبی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۳) مؤرخ ۱۳۹۸/۱۲/۱۴ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۵) فصل و (۲۴) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

**دوه یمه ماده:**

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان او د طبي تخصصي- علمي کادر قانون د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې هغې شورې ته وړاندې کړي.

**درېیمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او یاد شوي قانون له متن سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مادهٔ دوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان و قانون کادرعلمی- تخصصی طبی را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی، به آن شورا تقدیم نمایند.

**مادهٔ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن قانون مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د طبي تخصصي– علمي**
**کادر د قانون د طرحې**
**په هکله د افغانستان اسلامي**
**جمهوریت د کابینې**
**مصوبه**

ګڼه: (۱۳)
نېټه: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې، د ۱۴/ ۱۲/ ۱۳۹۸ نېټې په خپله غونډه کې د طبي تخصصي– علمي کادر د قانون طرحه د (۵) فصلونو او (۲۴) مادو په د ننه کې د تقنیني فرمان په توګه تصویب کړه.

**محمد اشرف غني**
د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

**مصوبهٔ**
**کابینهٔ جمهوری اسلامی**
**افغانستان در مورد طرح قانون**
**کادر علمی– تخصصی**
**طبی**

شماره: (۱۳)
تاریخ: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به تأسی از حکم مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۸/۱۲/۱۴ خویش طرح قانون کادرعلمی – تخصصی طبی را به داخل (۵) فصل و (۲۴) ماده به حیث فرمان تقنینی تصویب نمود.

**محمد اشرف غنی**
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

## قانون کادر علمی- تخصصی طبی

### فصل اول

### احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۶ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۶ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۷ |
| مادهٔ چهارم: | تطبیق احکام | ۸ |
| | **فصل دوم** | |
| | **وظایف و صلاحیت ها** | |
| مادهٔ پنجم: | وظایف ریاست اکمال تخصص | ۸ |
| مادهٔ ششم: | وظایف اعضای کادر علمی- تخصصی طبی | ۱۰ |
| | **فصل سوم** | |
| | **ایجاد شورای متخصصین طبی** | |
| مادهٔ هفتم: | ایجاد شورای متخصصین طبی | ۱۲ |
| مادهٔ هشتم: | وظایف و صلاحیت های شورای متخصصین طبی | ۱۴ |
| مادهٔ نهم: | جلسات شورای متخصصین طبی | ۱۵ |
| | **فصل چهارم** | |
| | **پذیرش، تصنیف رتب و شرایط ترفیع اعضای کادر علمی- تخصصی طبی** | |
| مادهٔ دهم: | پذیرش عضو کادر علمی- تخصصی طبی | ۱۶ |
| مادهٔ یازدهم: | تصنیف رتب | ۱۸ |

مادهٔ دوازدهم: شرایط ترفیع به رتبهٔ کادری رنځوریار.......................۱۸
مادهٔ سیزدهم: شرایط ترفیع به رتبهٔ کادری رنځورمل.......................۱۹
مادهٔ چهاردهم: شرایط ترفیع به رتبهٔ کادری رنځورال.......................۲۱
مادهٔ پانزدهم: شرایط ترفیع به رتبهٔ کادری رنځورپوه.......................۲۳
مادهٔ شانزدهم: منظوری ترفیع رتب اعضای کادر علمی- تخصصی طبی..۲۵
مادهٔ هفدهم: حقوق مادی اعضای کادر علمی- تخصصی طبی..........۲۶
مادهٔ هجدهم: افزودی در حقوق تقاعد.................................۲۷

## فصل پنجم
## احکام متفرقه

مادهٔ نزدهم: امورمربوط بهشفاخانه های‌کادری وزارت تحصیلات عالی.۲۸
مادهٔ بیستم: تحصیل در خارج از کشور.................................۲۸
مادهٔ بیست ویکم: تبدیلی...................................................۲۸
مادهٔ بیست و دوم: شرایط پذیرش ترینی ها...............................۲۹
مادهٔ بیست و سوم: پیشنهاد مقرره و وضع لوایح و طرزالعمل ها..............۲۹
مادهٔ بیست و چهارم: انفاذ و الغاء.............................................۲۹

## د طبي تخصصي – علمي کادر قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اووه څلویښتمې مادې د حکم په رڼاکې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې قانون موخې عبارت دي له:

۱– د طبي تخصصي–علمي کادر د غړو د علمي او مسلکي پوهاوي د کچې لوړول.

۲– د روغتیا ښه والی، د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو د کیفیت پورته کول او د ناروغانو ښه معالجه.

۳– د طبي تخصصي – علمي فعالیتونو پرمخ بیولو د زمینې برابرول.

۴– د طبي تخصصي – علمي کادر

## قانون کادر علمی – تخصصی طبی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون در روشنی حکم مادهٔ چهل و هفتم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱– بلند بردن سطح دانش علمی و مسلکی اعضای کادرعلمی– تخصصی طبی.

۲– بهبود صحت، بلند بردن کیفیت عرضهٔ خدمات صحی و معالجهٔ بهتر مریضان.

۳– مساعد ساختن زمینهٔ پیشبرد فعالیت های علمی – تخصصی طبی.

۴– تأمین حقوق و امتیازات اعضای

د غړو د حقوقو او امتیازونو تأمین.
۵- د طبي تخصصي - علمي کادر د غړو د منلو، ترفیع او تقاعد د شرایطو پورې د اړوندو چارو تنظیم.

اصطلاحګانې

دریمه ماده:
په دې قانون کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:
۱- د تخصص د بشپړولو برنامه: د داخل خدمت دوامداره طبي تخصصي زده‌کړه ده چې په کادري طبي تخصصي روغتونونو کې جوړېږي.
۲- طبي تخصصي کادري روغتونونه: د عامې روغتیا وزارت مرکزي روغتونونو، د زونونو حوزوي روغتونونو، د ملي دفاع، کورنیو چارو وزارتونو او د ملي امنیت لوی ریاست پورې اړوند روغتونونه پکې شامل دي.
۳- د طبي تخصصي- علمي کادر غړی: هغه شخص دی چې په یو تخصصي کادري روغتون کې د طبابت

کادر علمی - تخصصی طبی.
۵- تنظیم امور مربوط به شرایط پذیرش، ترفیع و تقاعد اعضای کادر علمی- تخصصی طبی.

اصطلاحات

مادهٔ سوم:
اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:
۱- برنامهٔ اکمال تخصص: تحصیلات متداوم تخصصی طبی داخل خدمت بوده که در شفاخانه های کادری تخصصی طبی تدویر می‌یابد.
۲- شفاخانه های کادری تخصصی طبی: شامل شفاخانه های مرکزی وزارت صحت عامه، شفاخانه های حوزه وی زون ها، شفاخانه های مربوط وزارت های دفاع ملی، امور داخله و ریاست عمومی امنیت ملی می‌باشد.
۳- عضوکادر علمی - تخصصی طبی: شخصی است که در یکی از شفاخانه های کادری تخصصی به امور

په چارو او طبي تخصصي څېړنو بوخت وي او ددې قانون او اړوندو تقنيني سندونو له حکمونو سره سم يې تخصصي زده کړه ييزې برنامې په برياله ډول سرته رسولې وي.

**د حکمونو تطبيق**

**څلورمه ماده:**

ددې قانون حکمونه د طبي تخصصي کادري روغتونونو د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو په اړه د تطبيق وړ دي.

## دوه يم فصل

## دندې او واکونه

**د تخصص بشپړولو د رياست دندې**

**پنځمه ماده:**

ددې قانون د حکمونو د تحقق په منظور، د تخصص د بشپړولو رياست د عامې روغتيا په چوکاټ کې فعاليت کوي او دلاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د تخصص د بشپړولو د پلانونو، کريکولم او پروګرام طرح او ترتيب.

طبابت و تحقيقات تخصصی طبی اشتغال داشته و برنامه های آموزشی تخصصی را مطابق احکام اين قانون و اسناد تقنينی مربوط مؤفقانه به انجام رسانيده باشد.

**تطبيق احکام**

**مادۀ چهارم:**

احکام اين قانون در مورد اعضای کادر علمی – تخصصی طبی شفاخانه های کادری تخصصی طبی قابل تطبيق می‌باشد.

## فصل دوم

## وظايف و صلاحيت ها

**وظايف رياست اکمال تخصص**

**مادۀ پنجم:**

به منظور تحقق احکام اين قانون، رياست اکمال تخصص در چوکات وزارت صحت عامه فعاليت و دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می‌باشد:

۱- طرح و ترتيب پلان ها، کريکولم و پروگرام اکمال تخصص.

۲- د عامې روغتيا وزارت له پاليسۍ او استراتيژۍ سره سم د طبي تخصصي – علمي کادر او طبيب تريني د غړو د ظرفيت لوړول.

۳- د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو د تحصيلي سندونو او مسلکي مهارتونو څارنه او ارزونه.

۴- له ملي او بين المللي معيارونو سره سم د تخصص د بشپړولو د آزموينو اخيستل.

۵- په هېواد کې دننه او له هېواد څخه بهر دملکي او نظامي بورسونو له مقررې سره سم تحصيلي بورسونو ته د طبي علمي- تخصصي کادر د غړو معرفي.

٦- د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو د علمي ــ څېړنيز چارو رهبري.

۷- واکمنو مراجعوته د منظورې لپاره د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو د رتبو د لوړولو وړانديز.

۸- د لوړو زده کړو له مؤسسو يا د ملي او بين المللي څېړنيزو مرکزونو سره په همکارۍ د علمي کنفرانسونو جوړول.

۲- ارتقای ظرفيت اعضای کادرعلمی- تخصصی طبی و طبيب ترينی مطابق پاليسی و استراتيژی وزارت صحت عامه.

۳- نظارت و ارزيابی اسناد تحصيلی و مهارت های مسلکی اعضای کادر علمی- تخصصی طبی.

۴- اخذ امتحانات اکمال تخصص مطابق معيارهای ملی و بين‌المللی.

۵- معرفی اعضای کادرعلمی- تخصصی طبی به بورس های تحصيلی مطابق مقرره های بورس های ملکی و نظامی در داخل و خارج کشور.

٦- رهبری امور علمی – تحقيقی اعضای کادرعلمی- تخصصی طبی.

۷- پيشنهاد ارتقای رتب اعضای کادر علمی – تخصصی طبی جهت منظوری به مراجع ذيصلاح.

۸- برگزاری کنفرانس های علمی در همکاری با مؤسسات تحصيلات عالی يا مراکز تحقيقاتی ملی و بين‌المللی.

۹- د تخصص د بشپړولو د ستندردونو او پروګرامونو د معیارونو نوي کول او پرمختیا.

۱۰- له طبي تخصصي کادري روغتونونو څخه په منظم ډول د تخصص د بشپړولو د پروګرامونو څارنه او ارزونه.

۱۱- د کمبودو بستونو د شتون په صورت کې د استادانو استخدام.

۱۲- له اړوندې کړنلارې سره سم د شفونو تقرر او بدلول.

۱۳- په تخصصي کادري روغتونونو کې د څېړنیز مرکز رامنځته کول.

۱۴- د اړوندو لایحو او کړنلارو برابرول او ترتیب او د تصویب لپاره د طبي متخصصینو شورې ته د هغو وړاندې کول.

## د طبي تخصصي-علمي کادر د غړو دندې

**شپږمه ماده:**

د طبي تخصصي- علمي کادر غړي د لاندې دندو لرونکي دي:

۹- تجدید و انکشاف ستندرد ها و معیار های پروگرام اکمال تخصص.

۱۰- نظارت و ارزیابی از پروگرام های اکمال تخصص طور منظم از شفاخانه های کادری تخصصی طبی.

۱۱- استخدام استادان در صورت موجودیت بست های کمبود.

۱۲- تقرر و تبدیل شف ها مطابق طرز العمل مربوط.

۱۳- ایجاد مرکز تحقیقات در شفاخانه های کادری تخصصی.

۱۴- تهیه و ترتیب لوایح و طرزالعمل های مربوط و ارائه آن جهت تصویب به شورای متخصصین طبی.

## وظایف اعضای کادر علمی- تخصصی طبی

**مادهٔ ششم:**

اعضای کادر علمی- تخصصی طبی دارای وظایف ذیل می‌باشند:

۱- د اړوندې رېشتې لــه کريکــولم سره سم د ترينيانو د مياشتني او کلني کاري پلان برابرول.

۲- د ډيپارټمنټ د کاري پــلان پــه برابرولو کې د شف له ډيپارټمنټ سره ونډه اخيستل او همکاري.

۳- دلکـــچر، teaching bedside د ګروپي علمي لويو بحثونو د ويزټونو او د تدريس د نورو club journal تګلارو په ګډون د کريکولم سره سم د تخصص د بشـــپړولو د پروګرامونـــو تطبيق.

۴- مطالعې او له معتبرو او نوو سرچينو څخه ګټې اخيســتنې تــه د ترينيــانو لارښوونه.

۵- د اړوندې رشتې لــه کريکــولم سره سم د ترينيانو د مهـــارتونو وده او پرمختيا او د هغو ارزونه.

٦- له اړوند کريکــولم ســره ســم د ترينيانو د book log تصديق.

۷- د تخصص د بشپړولو رياست تــه د علمي او تخصصي فعاليتونو له اجراء څخه د مياشتني رپوټ وړاندې کول.

۱- تهيـــهٔ پـــلان کـــاری مـــاهوار و سالانهٔ  ترينی ها مطابق کريکولم رشتهٔ مربوط.

۲- سهم گيری و همکاری بـــا شـــف ديپارتمنـــت در تهيـــهٔ پـــلان کـــاری ديپارتمنت.

۳- تطبيق پروگرام های اکمال تخصص مطابق کريکولم بـــه شـــمول لکچـــر، teaching bedside، ويـــــزت های عمومی بحث هـــای علمـــی گروپـــی club naljour و ســـاير روش هـــای تدريس.

۴- رهنمايی ترينی هـــا بـــه مطالعـــه و اســـــتفاده از منـــــابع معتبـــــر و جديد.

۵- رشد انکشاف مهارت های ترينی ها و ارزيابی آنها مطابق کريکـــولم رشـــتهٔ مربوط.

٦- تصـــــديق book log هـــــای ترينی ها مطابق کريکولم مربوط.

۷- ارائه گزارش مـــاهوار از اجـــرای فعاليت های علمی و تخصصی به رياست اکمال تخصص.

۸- د اړونـــدې رشـــتې د تخصصـــي روغتیایي خدمتونو وړانـــدې کـــول او د دیپارټمنټ له لوري د برابرشوي مهال وېش سره سم د ناروغ درملنه.

۹- د دیپـــارټمنټونو او تخصصـــي او ځېړنیـــــــزو چارو journal club، clinical and it، ته د درسي توکو په برابرولو کې برخه اخیستل.

## درېیم فصل

## د طبي متخصصینو شوري

### د طبـــي متخصصـــینو د شـــوري رامنځته کول

**اوومه ماده:**

د طبي متخصصینو شوري، پـــه طبـــي تخصصي چاروکې د تصـــمیم نیـــونې ترټولو لوړه مرجع ده چې پـــه لانـــدې ترکیب سره رامنځته کېږي:

۱- د عامې روغتیا وزیر د رئیس پـــه توګه.

۲- د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمۍ د روغتیـــایي برخـــې رئیس د غړي په توګه.

۸- عرضهٔ خدمات صـــحی تخصصـــی رشـــتهٔ مربـــوط و معالجـــهٔ مـــریض مطابق تقســـیم اوقـــات تهیـــه شـــده از طرف دیپارتمنت.

۹- ســـــــهم گیـــــــری در تهیـــــــهٔ مواد درسی به دیپارتمنت هـــا و امـــور تخصصی و تحقیقـــی journal club، clinical and it.

## فصل سوم

## شورای متخصصین طبی

### ایجـــاد شـــورای متخصصـــین طبی

**مادهٔ هفتم:**

شورای متخصصین طبی عـــالی تـــرین مرجـــــع تصـــــمیم‌گیـــــری در امـــور تخصصـــی طبـــی بـــوده کـــه به ترکیب ذیل ایجاد می‌گردد:

۱- وزیر صـــحت عامـــه بـــه حیـــث رئیس.

۲- رئیس بخش صحی اکادمی علـــوم جمهوری اسلامی افغانستان بـــه حیـــث عضو.

۳- د ابوعلي ابن سينا دکابل طبي د علومو د پوهنتون رئیس د غړي په توګه.

۴- د خصوصي روغتونونو د اتحادیې رئیس د غړي په توګه.

۵- د ملي دفاع وزارت استازی لږترلږه د رنځوروال د تخصصي علمي رتبې لرونکی د غړي په توګه.

٦- د کورنیو چارو وزارت استازی لږترلږه د رنځوروال د تخصصي علمي رتبې لرونکی د غړي په توګه.

۷- د ملي امنیت د لوی ریاست استازی لږترلږه د رنځوروال د تخصصي علمي رتبې لرونکي د غړي په توګه.

۸- د طبی شوري استازی لږترلږه د رنځوروال د تخصصي علمي رتبې لرونکی د غړي په توګه.

۹- د جنسیت په پام کې نیولو سره په دوره یي توګه د دوو کلونو مودې لپاره د روغتیا وزارت د طبي تخصصي کادري روغتونونو له بېلابېلو دیپارټمنټونو څخه اته تنه لږترلږه د

۳- رئیس پوهنتون علوم طبی کابل ابوعلی ابن سینا به حیث عضو.

۴- رئیس اتحادیهٔ شفاخانه های خصوصی به حیث عضو.

۵- نمایندهٔ وزارت دفاع ملی دارای حداقل رتبهٔ علمی تخصصی رنځوروال به حیث عضو.

٦- نمایندهٔ وزارت امور داخله دارای حداقل رتبهٔ علمی تخصصی رنځوروال به حیث عضو.

۷- نمایندهٔ ریاست عمومی امنیت ملی دارای حداقل رتبهٔ علمی تخصصی رنځوروال به حیث عضو.

۸- نمایندهٔ شورای طبی دارای حداقل رتبهٔ علمی تخصصی رنځوروال به حیث عضو.

۹- هشت نفر از دیپارتمنت های مختلف شفاخانه های کادری تخصصی طبی وزات صحت دارای حد اقل رتبهٔ تخصصی رنځوروال برای مدت دو سال طور

رنځورروال د تخصصي علمي رتبې لرونکی، د غړو په توګه.

۱۰- د عامې روغتیا وزارت د تخصص د بشپړو رئیس د غړي او منشي په توګه.

**د طبي متخصصینو شوري دندې او واکونه**

**اتمه ماده:**

(۱) د طبي متخصصینو شوري د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د تخصص د بشپړولو د کریکولم پروګرام تأیید، تصویب او ورڅخه څارنه.

۲- د طبي تخصصي- علمي کادر د غړو د علمي - څېړنیز پلانونو تأیید.

۳- د علمي - څېړنیز او طبي تخصصي څېړنو د اجراء لپاره د آسانتیاوو برابرول.

۴- د تخصصي کادري روغتونونو او د لوړو زده کړو وزارت د کادري روغتونونو تر منځ د همغږۍ تأمین.

۵- د علمي کنفرانسونو د ارزونې

دوره ای با نظر داشت جنسیت به حیث اعضاء.

۱۰- رئیس اکمال تخصص وزارت صحت عامه به حیث عضو و منشی.

**وظایف و صلاحیت های شورای متخصصین طبی**

**مادۀ هشتم:**

(۱) شورای متخصصین طبی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- تأیید، تصویب و نظارت از کریکولم پروگرام های اکمال تخصص.

۲- تأیید پلان های علمی- تحقیقی اعضای کادرعلمی- تخصصی طبی.

۳- فراهم آوری تسهیلات برای اجرای تحقیقات علمی- تحقیقی و تخصصی طبی.

۴- تأمین هماهنگی میان شفاخانه های کادری تخصصی و شفاخانه های کادری وزارت تحصیلات عالی.

۵- تعیین هیئت ارزیابی کنفرانس های

د هیئت ټاکل.
۶- د طبي تخصصي -علمي کادر دغړو د رتبو دکاندید د دفاعیې اورېدل.
۷- د طبي تخصصي - علمي کادر د غړو د رتبو تأیید.
۸- د رنځورپوه علمي- تخصصي کادر د غړو د کلنیو فعالیتونو څارنه او تأیید.
۹- د علمي غونډو، کنفرانسونو، سیمینارونو، او ورکشاپونو جوړول.
۱۰- د اړوند لوایحو او کړنلارو تصویب.
(۲) د طبي متخصصینو شوري کولی شي د اړتیا په صورت کې اختصاصي کمېټه رامنځته او د جلا کړنلارې سره سم دهغې دندې او واکونه مشخص کړي.

## د طبي متخصصینو د شوري غونډې

نهمه ماده:
(۱) د طبي متخصصینو د شوري عادي غونډې میاشت کې یوځل ترسره کېږي او دهغې فوق العاده غونډې د طبي

علمی.
۶- استماع دفاعیهٔ کاندید رتب اعضای کادر تخصصی طبی.
۷- تأیید رتب اعضای کادر علمی - تخصصی طبی.
۸- نظارت و تأیید فعالیت های سالانهٔ اعضای کادرعلمی - تخصصی رنځورپوه.
۹- برگزاری مجالس علمی، کنفرانس ها، سیمینارها و ورکشاپ ها.
۱۰- تصویب لوایح و طرز العمل های مربوط.
(۲) شورای متخصصین طبی می‌تواند در صورت ضرورت کمیتهٔ اختصاصی را ایجاد و وظایف و صلاحیت های آن را مطابق طرزالعمل جداگانه مشخص نماید.

## جلسات شورای متخصصین طبی

مادهٔ نهم:
(۱) جلسات عادی شورای متخصصین طبی ماه یک بار دایر می‌گردد و جلسات فوق العادهٔ آن به

متخصصينو د شوري د رئيس په تصميم يا د هغې د غړو د ثلث په وړانديز سره دايرېداى شي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره‌کې د درج شوو غونډو د جوړېدو ډول په هغې کړنلارې کې چې د طبي متخصصينو د شوري له لوري وضع کېږي، تنظيمېږي.

تصميم رئيس شوراى متخصصين طبى يا به پيشنهاد ثلث اعضاى آن دايرشده مى‌تواند.

(۲) طرز تدوير جلسات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در طرزالعملى كه از طرف شوراى متخصصين طبى وضع مى‌گردد، تنظيم مى‌شود.

## څلورم فصل

## د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو منل، د رتبو تصنيف او د ترفيع شرايط

## فصل چهارم

## پذيرش، تصنيف رتب و شرايط ترفيع اعضاى كادر علمى– تخصصى طبى

**د طبي تخصصي – علمي کادر د غړي منل**

لسمه ماده:

د طبي تخصصي – علمي کادر غړى تر دغو شرايطو لاندې منل کېږي:

۱– د تخصص له برنامې څخه د فراغت د سند لرل.

۲– د سياليزې آموزينې په برياليتوب سره تېرول

۳– د (۴۵) کلنې سن نه بشپړول.

**پذيرش عضوكادر علمى– تخصصى طبى**

مادهٔ دهم:

عضوكادر علمى– تخصصى طبى تحت شرايط ذيل پذيرفته مى‌شود:

۱– داشتن سند فراغت از برنامهٔ تخصص.

۲– سپرى نمودن مؤفقانهٔ امتحان رقابتى.

۳– تكميل نكردن سن (۴۵) سالگى.

۴- د تخصـــص د دورې د پروګـــرام د نمرو د لږترلږه (۸۵) سلنې لرل.

۵- د تخصص د دورې د مونوګراف ( د علمي ــ څېړنيزې رسالې) بشپړول او له هغه څخه دفاع.

٦- د دولتي لوړو زده کړو مؤسسو له حضوري برنامو څخه د MD ، DMD زده کړه ييزسندل لرل يا د اکادميـک اعتبار لرونکو کورنيـو يـا بهرنيـو خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو لـه حضوري برنامو څخه د MD ، DMD زده کړه ييز سند لرل.

۷- د زده کړې د دورې د اوســطو نمرو (۷۵) سلنه لرل.

له هېواد څخه بهر د لوړو زده کــړو مؤسسو داوطلب، د اړوند هېواد لــه معيارونو سره سم د نمرو د اوســطې سلنې د نه بشپړولو په صــورت کــې لږترلږه د Grad B او يا له هغه څخه پورته لرونکی وي.

۸- په اړوندو رغتونونو کې د طبــي تخصصي کادر د تش بست شتون.

۴- داشتن حداقل (۸۵) فیصد نمرات پروگرام دورۀ تخصص.

۵- تکمیل مونوگراف (رسالۀ علمـــی- تحقیقـــی) دورۀ تخصـــص و دفـــاع از آن.

٦- داشتن سند تحصیلی MD،DMD از برنامۀ حضوری مؤسسات تحصیلات عالی دولتی یا داشتن سند تحصیلـــــی MD، DMD از برنامـــه حضـــوری مؤسسات تحصیلات عالی خصوصـــی داخلـــی یـــا خـــارجی دارای اعتبـــار اکادمیک.

۷- داشتن (۷۵) فیصد اوسط نمـــرات دورۀ تحصیل.

داوطلـــب مـــؤســـسات تحصیلات عالی خارج از کشور، در صورت عدم تکمیل فیصدی اوسط نمـــرات مطـــابق معیار هـــای کشـــور مربـــوط حـــایز حداقل Grad B و یـــا بـــالاتر از آن باشد.

۸- موجـــودیت بســـت خـــالی کادر تخصصی طبی در شفاخانه های مربوط.

**د رتبو تصنیف**

**یوولسمه ماده:**

د طبي تخصصي – علمي کادر غړي په لاندې رتبو باندې تصنیفېږي:

۱– رنځوریار.

۲– رنځورمل.

۳– رنځـــوروال.

۴– رنځورپوه.

**د رنځوریار کادري رتبې ته د ترفیع شرایط**

**دوولسمه ماده:**

طبي متخصص ترینر تر دغو شـــرایطو لاندې د رنځوریار کادري رتبې ته ترفیع کولی شي:

۱– له اړوندو طبي تخصصي روغتونونو څخه په یوه کې د بالفعله دوه وو کلونو د خدمت ترسره کول.

۲– د لارښود استاد په واسطه د کلني فعالیت د رپــوټ وړانــدې کـــول او د اړوند دیپارټمنټ د مجلس له لوري د هغه تأیید.

۳– د طبي متخصصینو د شوري پــه

**تصنیف رتب**

**مادۀ یازدهم:**

اعضای کادر تخصصی طبی به رتب ذیل تصنیف می‌گردند:

۱–رنځوریار.

۲– رنځورمل.

۳– رنځـــوروال.

۴– رنځورپوه.

**شرایط ترفیع بـــه رتبـــۀ کـــادری رنځوریار**

**مادۀ دوازدهم:**

ترینرمتخصص طبی تحت شرایط ذیل به رتبـــۀ کـــادری رنځوریـــار ترفیـــع نموده می‌تواند:

۱– انجام دو سال خدمت بالفعـــل در یکـــی از شـــفاخانه هـــای کـــادری تخصصی طبی مربوط.

۲– ارائه گـــزارش فعالیـــت ســـالانه توســـط اســـتاد رهنمـــا و تأییـــد آن از طـــرف مجلـــس دیپارتمنـــت مربوط.

۳– ایـــراد دو کنفـــرانس علمـــی

وړاندې د دوه وو علمي کنفرانسونو وړاندې کول او د طبي متخصصينو د شورې په انتخاب د پنځه کسيز هيئت له لورې د هغه مثبته ارزونه.

۴- د دوه وو علمي – څېړنيز مقالو ليکل او د کورني يا بهرني علمي نشريو په يوه کې د هغو خپرول.

۵- په بين المللي معتبرو خپرندويوکې لږترلږه د يوې څېړنيزې مقالې خپرول.

٦- له انګليسي ژبې يا له بين المللي ژبو څخه له يوه سره کامله بلدتيا.

۷- د کال په پای کې د تخصص د بشپړولو رياست ته په طبي تخصصي کادري روغتونونو کې د ناروغيو د علمي – څېړنيز بررسيو د پايلو د رپوټ وړاندې کول.

## د رنځورمل کادري رتبې ته د ترفيع شرايط

**ديارلسمه ماده:**

رنځوريار تر دغو شرايطو لاندې د رنځورمل کادري رتبې ته ترفيع کولی شي:

در محضر شورای متخصصين طبی و ارزيابی مثبت آن از طرف هئيت پنج نفری به انتخاب شورای متخصصين طبی.

۴- تحرير دو مقالهٔ علمی- تحقيقی و نشر آن در يکی از نشريه های علمی داخلی يا خارجی.

۵- نشر حد اقل يک مقالهٔ تحقيقی در نشريه های معتبر بين المللی.

٦- بلديت کامل به زبان انگليسی يا يکی از زبان های بين المللی.

۷- ارائه گزارش نتايج بررسی های علمی – تحقيقی امراض در شفاخانه های کادری تخصصی طبی در ختم سال به رياست اکمال تخصص.

## شرايط ترفيع به رتبهٔ کادری رنځورمل

**مادهٔ سيزدهم:**

رنځوريار تحت شرايط ذيل به رتبهٔ کادری رنځورمل ترفيع نموده می‌تواند:

۱- د اړوند طبي تخصصي کادري روغتونونو په یوه کې د رنځوریار علمي- تخصصي کادر رتبې کې د بالفعله درېیوو کلونو د خدمت ترسره کول.

۲- د لارښود استاد په واسطه د کلني فعالیت د رپوټ وړاندې کول او د اړوند دیپارټمنټ د مجلس له لوري د هغه تأیید.

۳- د طبي متخصصینو د شوري په وړاندې د درېیوو علمي کنفرانسونو وړاندې کول او د طبي متخصصینو د شوري په انتخاب د پنځه کسیز هیئت له لوري د هغه مثبت ارزول.

۴- د درېیوو علمي - تحقیقي مقالو لیکل او د کورني یا بهرني علمي نشریو په یوه کې د هغو خپرول.

۵- په هغه موضوع کې د یو علمي - تحقیقي علمي اثر لیکل چې د مخه د دیپارټمنت د مجلس او د طبي متخصصینو د شوري له خوا ټاکل شوې او د طبي متخصصینو پروړاندې له هغه څخه بریالی دفاع.

۱- انجام سه سال خدمت بالفعل در رتبۀ کادر علمی- تخصصی رنځوریار دریکی از شفاخانه های کادری تخصصی طبی مربوط.

۲- ارایۀ گزارش فعالیت سالانه توسط استاد رهنما و تأیید آن از طرف مجلس دیپارتمنت مربوط.

۳- ایراد سه کنفرانس علمی در محضر شورای متخصصین طبی و ارزیابی مثبت آن از طرف هیئت پنج نفری به انتخاب شورای متخصصین طبی.

۴- تحریر سه مقالۀ علمی- تحقیقی و نشر آن در یکی از نشریه های علمی داخلی یا خارجی.

۵- تحریر یک اثر علمی - تحقیقی در موضوعی که قبلاً از طرف مجلس دیپارتمنت و شورای متخصصین طبی تعیین گردیده و دفاع مؤفقانه از آن در محضر شورای متخصصین طبی.

۶- په بین المللي معتبرو خپرندویو کې لږترلږه د یوې څېړنیزې مقالې خپرول.

۷- پر انګلیسي ژبې یا له بین المللي ژبو څخه پریوې بشپړ تسلط.

۸- د هېواد د رسمي ژبو پريوې د یو علمي اثر ژباړه او د لارښود استاد له خوا د هغه تأیید.

۹- د تخصص د بشپړولو ریاست ته د کال په پای کې په طبي تخصصي کادري روغتونونوکې د علمي – څېړنیز بررسیو د پایلو رپوټ وړاندې کول.

## د رنځوروال کادري رتبې ته د ترفیع شرطونه

**څوارلسمه ماده:**

رنځورمل تر دغو شرایطو لاندې د رنځوروال کادري رتبې ته ترفیع کولی شي:

۱- د اړوند طبي تخصصي کادري روغتونونو په یوه کې د رنځورمل علمي- تخصصي کادر رتبې کې د بالفعله څلورو کلونو د خدمت ترسره

۶- نشر حد اقل یک مقالهٔ تحقیقی در نشریه های معتبر بین المللی.

۷- تسلط کامل به زبان انگلیسی یا یکی از زبان های بین المللی.

۸- ترجمهٔ یک اثر علمی به یکی از زبان های رسمی کشور و تأیید آن از طرف استاد رهنما.

۹- ارایهٔ گزارش نتایج بررسی های علمی – تحقیقی در شفاخانه های کادری تخصصی طبی در ختم سال به ریاست اکمال تخصص.

## شرایط ترفیع به رتبهٔ کادری رنځوروال

**مادهٔ چهاردهم:**

رنځورمل تحت شرایط ذیل به رتبهٔ کادری رنځوروال ترفیع نموده می‌تواند:

۱- انجام چهار سال خدمت بالفعل در رتبهٔ کادر علمی – تخصصی رنځورمل در یکی از شفاخانه های کادری تخصصی طبی

کول.
۲- د لاربنود استاد په واسطه د کلني فعالیت د رپوټ وړاندې کول او د اړوند دیپارټمنټ د مجلس له لوري د هغه تأیید.
۳- د طبي متخصصینو د شوري په وړاندې دڅلورو علمي کنفرانسونو وړاندې کول او د طبي متخصصینو د شوري په انتخاب د پنځه کسیز هیئت له لوري د هغه مثبت ارزول.
۴- د څلورو علمي – څېړنیزو مقالو لیکل او له کورنیو یا بهرنیو علمي نشریو په یوه کې د هغو خپرول.
۵- په هغه موضوع کې چې پخوا د دیپارټمنټ د مجلس او د طبي متخصصینو د شوري له لوري ټاکل شوې ده، د دوه وو علمي – څېړنیزو آثارو لیکل او د طبي متخصصینو د شوري په محضرکې له هغو څخه بریالی دفاع.
٦- په بین المللي معتبرو خپرندیو کې لږترلږه د یوې څېړنیزې مقالې خپرول.
۷- پر انګلیسي ژبې یا له بین المللي

مربوط.
۲- ارایهٔ گزارش فعالیت سالانه توسط استاد رهنما و تأیید آن از طرف مجلس دیپارتمنت مربوط.
۳- ایراد چهار کنفرانس علمی در محضر شورای متخصصین طبی و ارزیابی مثبت آن از طرف هیئت پنج نفری به انتخاب شورای متخصصین طبی.
۴- تحریر چهار مقالهٔ علمی- تحقیقی و نشر آن در یکی از نشریه های علمی داخلی یا خارجی.
۵- تحریر دو اثر علمی – تحقیقی در موضوعی که قبلاً از طرف مجلس دیپارتمنت و شورای متخصصین طبی تعیین گردیده و دفاع مؤفقانه از آن در محضر شورای متخصصین طبی.
٦- نشر حد اقل یک مقالهٔ تحقیقی در نشریه های معتبر بین المللی.
۷- تسلط کامل به زبان انگلیسی یا یکی

ژبو څخه پر یوې بشپړه تسلط.

۸- د هېواد د رسمي ژبو څخه یوې ته په اړوند اختصاصي رشته کې د یو علمي اثر ژباړه او د لارښود استاد له لوري د هغه تأیید.

۹- د تخصص د بشپړولو ریاست ته د کال په پای کې په طبي تخصصي کادري روغتونونو کې د علمي – څېړنیزو بررسیو د پایلو د رپوټ وړاندې کول.

## د رنځورپوه کادري رتبې ته د ترفیع شرطونه

**پنځلسمه ماده:**

(۱) رنځوروال تر دغو شرایطو لاندې د رنځورپوه کادري رتبې ته ترفیع کولی شي:

۱- د اړوند طبي تخصصي کادري روغتونونو په یوه کې د رنځوروال علمي- تخصصي کادر رتبې کې د بالفعله پنځوکلونو د خدمت ترسره کول.

۲- د لارښود استاد په واسطه د کلني

از زبان های بین المللی.

۸- ترجمهٔ یک اثر علمی در رشتهٔ اختصاصی مربوط به یکی از زبان های رسمی کشور و تأیید آن از طرف استاد رهنما.

۹- ارایهٔ گزارش نتایج بررسی های علمی – تحقیقی در شفاخانه های کادری تخصصی طبی در ختم سال به ریاست اکمال تخصص.

## شرایط ترفیع به رتبهٔ کادری رنځورپوه

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) رنځوروال تحت شرایط ذیل به رتبهٔ کادری رنځورپوه ترفیع نموده می‌تواند:

۱- انجام پنج سال خدمت بالفعل در رتبهٔ کادر علمی- تخصصی رنځوروال در یکی از شفاخانه های کادری تخصصی طبی مربوط.

۲- ارائه گزارش فعالیت سالانه

فعالیت د رپوټ وړاندې کول او د اړوند دیپارټمنټ د مجلس له لوري د هغه تأیید.

۳- د طبي متخصصینو د شوري په وړاندې د پنځو علمي کنفرانسونو وړاندې کول او د طبي متخصصینو د شوري په انتخاب د پنځه کسیز هیئت له لوري د هغه مثبت ارزول.

۴- د پنځو علمي – تحقیقي مقالو لیکل او د کورني یا بهرني علمي نشریو په یوه کې د هغو خپرول.

۵- په هغه موضوع کې د دوه علمي – څېړنیز علمي اثر لیکل چې دمخه د دیپارټمنټ د مجلس او د طبي متخصصینو د شوري له خوا ټاکل شوې او د طبي متخصصینو شوري پر وړاندې له هغه څخه بریالی دفاع.

۶- په بین المللي معتبرو خپرندویو کې د لږترلږه د یوې څېړنیزې مقالې خپرول.

۷- پر انګلیسي ژبې یا له بین المللي ژبو څخه پر یوې بشپړه تسلط.

توسط استاد رهنما و تأیید آن از طرف مجلس دیپارتمنت مربوط.

۳- ایراد پنج کنفرانس علمی در محضر شورای متخصصین طبی و ارزیابی مثبت آن از طرف هیئت پنج نفری به انتخاب شورای متخصصین طبی.

۴- تحریر پنج مقالهٔ علمی – تحقیقی و نشر آن در یکی از نشریه های علمی داخلی یا خارجی.

۵- تحریر دو اثر علمی – تحقیقی در موضوعی که قبلاً از طرف مجلس دیپارتمنت و شورای متخصصین طبی تعیین گردیده و دفاع مؤفقانه از آن در محضر شورای متخصصین طبی.

۶- نشر حد اقل یک مقالهٔ تحقیقی در نشریه های معتبر بین المللی.

۷- تسلط کامل به زبان انگلیسی یا یکی از زبان های بین المللی.

۸- د هېواد د رسمي ژبو پر یوې په اړوند تخصصي رشته کې د یو بکر علمي – څېړنیز اثر تألیف یا ژباړه او د لاربنود استاد له خوا د هغه تأیید.

۹- د تخصص د بشپړولو ریاست ته د کال په پای کې په طبي تخصصي کادري روغتونونو کې د علمي – څېړنیزو بررسیو د رپوټ وړاندې کول.

(۲) رنځورپوه طبي تخصصي کادر د طبي فعالیتونو سربېره په کال کې د یوه علمي کنفرانس او بین المللي معتبرو خپرندویو کې د یوې مقالې په خپرولو مکلف دی.

## د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو د رتبو د ترفیع منظوري

شپاړسمه ماده:

د طبي تخصصي –علمي کادر د غړو د رتبې منظوري د لاندې مقاماتو له خوا صورت مومي:

۱-رنځوریار او رنځورمل د طبي متخصصینو د شورې له تأیید او

۸- تألیف یا ترجمهٔ یک اثر علمی- تحقیقی بکر در رشتهٔ اختصاصی مربوط به یکی از زبان های رسمی کشور و تأیید آن از طرف استاد رهنما.

۹- ارائه گزارش نتایج بررسی های علمی – تحقیقی در شفاخانه های کادری تخصصی طبی در ختم سال به ریاست اکمال تخصص.

(۲) کادر تخصصی طبی رنځورپوه علاوه بر فعالیت های طبی مکلف به ارائه یک کنفرانس علمی و نشر یک مقاله در نشریه های معتبر بین المللی در سال می‌باشد.

## منظوری ترفیع رتب اعضای کادرعلمی- تخصصی طبی

مادهٔ شانزدهم:

منظوری رتب اعضای کادر علمی- تخصصی طبی از طرف مقامات ذیل صورت می‌گیرد:

۱- رنځوریار و رنځورمل بعد از تأیید شورای متخصصین

د تخصص د بشپړولو ریاست له وړاندیز څخه وروسته د عامې روغتیا د وزیر په منظوري.

۲- رنځورروال او رنځورپوه د طبي متخصصینو د شورې له تأیید او د عامې روغتیا د وزیر له وړاندیز څخه وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس په منظوري.

## د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو مادي حقوق

اوولسمه ماده:

(۱) د طبي تخصصي –علمي کادر غړي د ماموریت د میاشتني معاش سربېره په لاندې ډول د طبي تخصصي- علمي کادر د مادي حقوقو مستحق هم دي:

۱- رنځوریار پنځه دېرش زره (۳۵۰۰۰) افغانۍ.

۲- رنځورمل پنځه څلوېښت زره (۴۵۰۰۰) افغانۍ.

۳- رنځورروال پنځه پنځوس زره (۵۵۰۰۰) افغانۍ.

طبی و پیشنهاد ریاست اکمال تخصص و منظوری وزیر صحت عامه.

۲- رنځورروال و رنځورپوه بعد از تأیید شورای متخصصین طبی، پیشنهاد وزیر صحت عامه و منظوری رئیس جمهوری اسلامی افغانستان.

## حقوق مادی اعضای کادرعلمی- تخصصی طبی

مادۀ هفدهم:

(۱) اعضای کادر علمی- تخصصی طبی علاوه بر معاش ماهوار ماموریت مستحق حقوق مادی کادر تخصصی طبی طور ذیل نیز می‌باشند:

۱- رنځوریار مبلغ سی و پنج هزار (۳۵۰۰۰) افغانی.

۲- رنځورمل مبلغ چهل و پنج هزار (۴۵۰۰۰) افغانی.

۳- رنځورروال مبلغ پنجاه و پنج هزار (۵۵۰۰۰) افغانی.

۴- رنځورپـــوه پنځـــه شـــپيته زره (۶۵۰۰۰) افغانۍ.

(۲) د طبي تخصصي - علمي کـــادر مـــادي حقـــوق د معـــاش جـــزء دی د ناروغتيا، قانوني رخصتيو يا په نورو هغو موقعيتونـــو کـــې چـــې د طبـــي تخصصـــي -علمـــي کـــادر غـــړي د ماموريت د معاش مســـتحق وي، د طبي تخصصي - علمي کادر د مـــادي حقوقو د ورکړې مستحق هم دي.

## د تقاعد په حقوقو کې زياتوالی

اتلسمه ماده:

(۱) د تقاعد د حقوقو په سنجش کې د طبي تخصصي - علمي کادر د غړو مادي حقوق، په طبي تخصصي - علمي کادر کې د خدمت د مودې په تناسب سره محاسبه کېږي.

(۲) د برحاله طبي تخصصي - علمـــي کادر په مادي حقوقو کې چې هرډول زياتوالی رامنځته شي، متناسباً د متقاعد طبي تخصصي - علمي کادر د غـــړو مادي حقوق هم زياتېږي.

۴- رنځورپوه مبلغ شصت و پنج هزار (۶۵۰۰۰) افغانی.

(۲) حقوق مادی کادر علمی- تخصصی طبی جزء معاش بوده در حالات مريضی، رخصتی های قانونی يا ساير موقعيت هايی که اعضـــای کـــادرعلمی- تخصصـــی طبی مستحق معاش ماموريـــت باشـــند، مستحق اعطای حقـــوق مـــادی کـــادر تخصصـــــــی طبـــــــی نيـــــــز می‌باشند.

## افزودی در حقوق تقاعد

مادهٔ هجدهم:

(۱) حقوق مادی اعضای کادر علمی- تخصصـــــی طبـــــی در ســـــنجش حقـــوق تقاعـــد بـــه تناســـب مدت خدمت در کادر علمی - تخصصی طبی محاسبه می‌گردد.

(۲) هرنوع افزودی که در حقوق مادی اعضای کادر علمی- تخصصـــی طبـــی برحال به عمل آيد، متناسباً حقوق مادی اعضای کادر علمی - تخصصی طبـــی متقاعد نيز افزود می‌گردد.

## پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

**دلوړو زده کــړو وزارت د کادري روغتونونو اړوند چاري**

**نولسمه ماده:**

دلوړو زده کــړو وزارت د کــادري روغتونونو اړوند چاري د اړوند قانون له حکمونو سره سم تنظيمېږي.

**له هېواده بهر تحصيل**

**شلمه ماده:**

له هېواده بهر د تحصيل په وخت کـې د طبي تخصصي – علمي کادر د غړو حقوق او امتيازات د اړوند تقنيني سند سره سم ورکول کېږي.

**تبديلي**

**يوويشتمه ماده:**

د طبي تخصصي – علمي کادر غــړي له طبي تخصصي کادري روغتونونـــو څخه د تبــديلي پـــه صــورت کــې د مکتســـبه علمـــي رتبـــې د مـــادي او معنوي حقوقو مستحق دي.

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

**امور مربوط به شفاخانه های کادری وزارت تحصیلات عالی**

**مادۀ نزدهم:**

امورمربوط به شفاخانه هـــای کـــادری وزارت تحصیلات عالی مطابق احکـــام قانون مربوط تنظیم می‌گردد.

**تحصیل در خارج از کشور**

**مادۀ بیستم:**

حقوق و امتیازات اعضای کادر علمی – تخصصی طبی حین تحصیل در خارج از کشور، مطابق سند تقنینی مربوط پرداخته می‌شود.

**تبدیلی**

**مادۀ بیست و یکم:**

اعضای کادر علمی – تخصصی طبـــی در صورت تبدیلی از شـــفاخانه هـــای کـــادری تخصصـــی طبـــی مســـتحق حقـــوق مـــادی و معنـــوی رتبـــۀ علمی مکتسبه می‌باشند.

## د ترينيانو د منلو شرطونه

**دوه ويشتمه ماده:**

د ترينيانو د منلو شرطونه او په هغو پورې نورې اړوندې چارې د جلا تقنيني سند په واسطه تنظيمېږي.

## د مقررې وړانديز او د لايحو او كړنلارو وضع

**درويشتمه ماده:**

د عامې روغتيا وزارت كولى شي، د دې قانون د حكمونو د ښه تطبيق په منظورمقررې وړانديز او لايحې او كړنلارې وضع كړي.

## انفاذ او الغاء

**څلېريشتمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذېږي او د ۱۴۲۲ هـ.ش كال د (۵۸۲) ګڼه فرمان په ذريعه توشېح شوې د طبي تخصصي كادرونو د حقوقو او امتيازونو مقرره، د ۱۳۹۲هـ.ش كال په (۱۱۰۱) ګڼه رسمي جريده كې خپور شوى

## شرايط پذيرش تريني ها

**مادۀ بيست و دوم:**

شرايط پذيرش تريني ها و ساير امور مربوط به آنها توسط سند تقنيني جداگانه تنظيم مى‌گردد.

## پيشنهاد مقرره و وضع لوايح و طرزالعمل ها

**مادۀ بيست و سوم:**

وزارت صحت عامه مى‌تواند به منظور تطبيق بهتر احكام اين قانون، مقرره را پيشنهاد، لوايح و طرزالعمل ها را وضع نمايد.

## انفاذ و الغاء

**مادۀ بيست و چهارم:**

اين قانون از تاريخ توشيح نافذ مى‌گردد و مقررۀ حقوق و امتيازات كادر هاى تخصصى طبى توشيح شده ذريعۀ فرمان شماره (۵۸۲) سال ۱۴۲۲هـ. ق، تعديل برخى از مواد مقررۀ حقوق و امتيازات كادر هاى تخصصى طبى منتشرۀ

د طبي تخصصي کـــادرونو د حقوقـــو او امتيازونو د ځينــو مـــادو تعـــديل او د ۱۳۹۴ هــ.ش کال په (۱۲۰٦) ګڼه رسمي جريده کې خپــور شــوی د طبي تخصصي کادرونو د حقوقو او امتيازونو د مقررې د اتلسمې مادې بيا تعديل لغوکېږي.

جريـــدۀ رســـمی شـــماره (۱۱۰۱) ســـال ۱۳۹۲هـــــ.ش و تعـــديل مجـــدد مـــادۀ هجـــدهم مقـــررۀ حقـــوق و امتيـــازات کـــادر هـــای تخصصی طبی منتشرۀ جريـــدۀ رســـمی شماره (۱۲۰٦) سال ۱۳۹۴ هـــــ.ش لغو می‌گردد.

## د ملکي لوړو زده‌کړو د قانون په ځینو مادو کې تعدیل او ایزاد د توشیح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

**ګڼه: (۴۴)**

**نېټه: ۱۳۹۸/۱۲/۱۵**

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلور شپیتمې مادې د ۱۶جزء د حکم له مخې او د نهه اویایمې مادې په رعایتولو سره د ملکي لوړو زده‌کړو د قانون په ځینو مادو کې تعدیل او ایزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۳۹۸/۱۲/۱۴ نېټې د (۱۳) ګڼې مصوبې پر بنسټ د (۵) مادو په د ننه کې تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

د عدلیې وزیر او په پارلماني چاروکې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان او د ملکي لوړو زده کړو د قانون

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

**شماره: (۴۴)**

**تاریخ: ۱۳۹۸/۱۲/۱۵**

**مادهٔ اول:**

به تأسی از حکم جزء ۱٦ مادهٔ شصت و چهارم و با رعایت مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۱۳) مؤرخ ۱۳۹۸/۱۲/۱۴ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۵) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

**مادهٔ دوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان و تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون

د مادو په ځینو برخو کې تعدیل او ایزاد د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې هغې شوري ته وړاندې کړي.

درېيمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د یاد شوي قانون په ځینو مادو کې د تعدیل او ایزاد له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

تحصیلات عالی ملکی را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی، به آن شورا تقدیم نمایند.

مادهٔ سوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د ملکي لوړو زده‌کړو د قانون په ځينو مادو کې تعديل او ايزاد د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

ګڼه: (۱۳)

نېټه: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې د افغانستان اساسي قانون د نهه اويايمې مادې د حکم له مخې، د ۱۴/ ۱۲/ ۱۳۹۸ نېټې په خپله غونډه کې د ملکي لوړو زده‌کړو د قانون په ځينو مادو کې تعديل او ايزاد طرحه د (۵) مادو په د ننه کې د تقنيني فرمان په توګه تصويب کړه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

شماره: (۱۳)

تاریخ: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به تأسی از حکم مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۸/۱۲/۱۴ خویش طرح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی را به داخل (۵) ماده به حیث فرمان تقنینی تصویب نمود.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د ملکي لوړو زده کړو د قانون په ځینو مادو کې تعدیل او ایزاد

لومړۍ ماده:

د ۱۳۹۴ کال په (۱۱۹۵) ګڼه رسمي جریده کې د خپاره شوي ملکي لوړو زده کړو د قانون د دریيمې مادې ۶ جزء، د پنځمې مادې د (۱) فقرې ۴، ۱۱، او ۱۲ جزونه، د شلمې مادې (۳) فقره، یوویشتمه ماده او پنځم فصل دې په لاندې ډول، تعدیل شي:

اصطلاحګانې

۱- دریيمه ماده:

۶- پوهنځي: د لوړو زده کړو د مؤسسې علمي او اداري واحد دی چې لږترلږه د دوو دیپارتمنتونو لرونکی دی او د لیسانس یا له هغه څخه د لوړې سوېې د کادرونو د ښوونې په منظور، د لوړو زده کړو د مؤسسې په تشکیل کې، فعالیت کوي.

## تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

مادۀ اول:

جزء ۶ مادۀ سوم، اجزای ۴، ۱۱ و ۱۲ فقرۀ (۱) مادۀ پنجم، فقرۀ (۳) مادۀ بیستم، مواد بیست و یکم و فصل پنجم قانون تحصیلات عالی ملکی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۱۹۵) سال ۱۳۹۴ ذیلاً، تعدیل گردد:

اصطلاحات

۱- مادۀ سوم:

۶-پوهنځی: واحد علمی و اداری مؤسسۀ تحصیلات عالی است که دارای حداقل دو دیپارتمنت بوده و به منظور آموزش کادر ها به سویۀ لیسانس یا بالاتر از آن، در تشکیل مؤسسۀ تحصیلات عالی، فعالیت می‌نماید.

**د عالي شوري ترکيب**

**۲- پنځمه ماده:**

**(۱) د لوړو زده کـــړو عالي شوري په لاندې ترکيب سره تشکيلېږي:**

**۴- د پـــــوهنې وزارت د عمـــــومي زده کړو معين د غړي په توګه.**

**۱۱- د اکاډميک اعتبـــار لرونکـــو د خصوصي لوړو زده کـــړو د مؤسسو له رئيسانو څخه دوه تنه چې د علمي کادر غړيتوب ولري، د مهال په ترتيب سره تأسيس او په متناوب ډول (د يوه کال د مودې لپاره)، د غړو په توګه.**

**۱۲- د علمي برنامو د پرمختيا رئيس د غړي او منشي په توګه.**

**۳- شلمه ماده:**

**(۳) د لوړو زده کـــــــړو د مؤسسې مرستيالان د اتلسمې مادې له ۱ جـــزء سره سم د څلورو کلونو لپاره، ټاکـــل کېږي.**

**ټاکنې**

**۴- يوويشتمه ماده:**

**د لوړو زده کــــــړو په مؤسسه کې په**

**ترکيب شورای عالی**

**۲- مادۀ پنجم:**

**(۱) شورای عالی تحصیلات عالی بـــه ترکیب ذیل تشکیل میگردد:**

**۴- معین تعلیمات عمـــومی وزارت معارف به حیث عضو.**

**۱۱- دو تن از رؤســـای مؤسســـات تحصیلات عالی خصوصی دارای اعتبار اکادمیک کـــه عضویت کادر علمی را داشته باشند، به ترتیب زمان تأسیس و به طور متناوب (برای مدت یک سال)، به حیث اعضاء.**

**۱۲-رئیس انکشاف برنامه های علمی به حیث عضو و منشی.**

**۳- مادۀ بیستم:**

**(۳) معاونـــان مؤسســـۀ تحصـــیلات عالی مطابق جـــزء ۱مـــادۀ هجـــدهم بـــرای چهـــار ســـال، تعیـــین میگردند.**

**انتخابات**

**۴- مادۀ بیست و یکم:**

**امور مربوط به انتخابات در مؤســـۀ**

ټاکنو پورې اړوندې چارې د لایحې په واسطه تنظیمېږي.

## پنځم فصل

## د لوړو زده کړو د مؤسسو د کیفیت د تضمین او د اکاډمیک اعتبار ورکونې اداره او بورد

**د کیفیت د تضمین او د اکاډمیک اعتبار ورکونې د ادارې او بورد رامنځته کول**

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۵) که چېرې په مرکز او ولایتونو کې د رسنیو د برنامې د ترسره کولو په وخت کې پېښه واقع شي، د رسنیو د همغږۍ مرکز او ملاتړ مرکزمسؤولین مکلف دي، د رسنیزو کارکوونکو د سلامتیا د ساتنې لپاره لازم تدبیرونه ونیسي.

## پر رسنیزو اشخاصو د ګواښونو ارزونه

اتلسمه ماده:

(۱) په مرکز او ولایتونو کې د ملاتړ مرکز مکلف دی، د رسنیزو اشخاصو پر وړاندې ګواښونه وارزوي.

(۲) رسنیز اشخاص او د رسنیو مسؤولین کولی شي، هغه ګواښونه چې هغوی ته په پام کې دي د ملاتړ کمېټې او مرکز ته خبر ورکړي.

(۳) د ملاتړ مرکز مکلف دی، د ارزونې پایلې د رسنیو د همغږۍ مرکز ته په ډېر لنډ وخت کې وړاندې کړي او لازم اقدامونه ونیسي.

(۴) د ملاتړ مرکز مکلف دی،

(۵) هرگاه حین اجرای برنامه های رسانه ها در مرکز و ولایات حادثۀ وقوع یابد، مسؤولین مرکز هماهنگی رسانه ها و مرکز حمایت مکلف اند، تدابیر لازم را جهت حفظ سلامت کارکنان رسانه یی اتخاذ نمایند.

## ارزیابی تهدیدات علیه اشخاص رسانه یی

مادۀ هجدهم:

(۱) مرکز حمایت در مرکز و ولایات مکلف اند، تهدیدات علیه اشخاص رسانه یی را ارزیابی نمایند.

(۲) اشخاص رسانه یی و مسؤولین رسانه ها می‌توانند، تهدیداتی را که متوجۀ آن ها باشد به کمیته و مرکز حمایت اطلاع دهند.

(۳) مرکز حمایت مکلف است، نتایج ارزیابی را به اسرع وقت به مرکز هماهنگی رسانه ها ارائه نموده و اقدامات لازم را اتخاذ نماید.

(۴) مرکز حمایت مکلف است، به

د رسنیزو اشخاصـو د ګواښـوونکو د هویت د پېژندلو په منظور د ګـواښ د عاملینو ټیلیفونونه کشف او تر تعقیب لاندې ونیسي.

(۵) د ملاتړ مرکز مکلف دی، د اړتیا په صورت کې شته سندونه او مدارک عـدلي او قضـایي مراجعـو تـه وسپاري.

(٦) د ملاتړ مرکز مکلـف دی، لـه کمېټې سره په همغږۍ کې د رسـنیزو کارکوونکو د امنیت او خونـدیتوب د تأمین لپاره اغېزمن اقدامونه ونیسي.

## څلورم فصل

## وروستني حکمونه

**د رسنیو د مسؤولینو مکلفیتونه**

**نولسمه ماده:**

(۱) د رسنیو مسؤولین مکلف دي، د هغو رسنیزو کارکوونکو د سملاسـي، پوره او جدي درملنې زمینه برابره کړي چې د دندې د ترسره کولو په وخـت کې د فزیکي یا رواني زیـان متقبـل کېږي.

منظور شناسایی هویت تهدید کنندگان اشخاص رسانه یی، تیلیفون های عاملین تهدید را ردیابی و مورد تعقیب قـرار دهد.

(۵) مرکز حمایت مکلف اسـت، در صورت ضرورت اسـناد و مـدارک دست داشته را به مراجـع عـدلی و قضایی احاله نماید.

(٦) مرکز حمایت مکلف اسـت، در هماهنگی با کمیته جهت تأمین امنیت و مصونیت کارکنان رسانه یی اقـدامات مؤثر را اتخاذ نماید.

## فصل چهارم

## احکام نهایی

**مکلفیت مسؤولین رسانه ها**

**مادۀ نزدهم:**

(۱) مسؤولین رسانه ها مکلف انـد، زمینـۀ تـداوی عاجـل، کـافی و جدی کارکنان رسانه یی را که حین اجرای وظیفه آسیب فزیکی یا روانی را متقبـل مـی‌شـوند، فـراهم نمایند.

(۲) د رسنيو مالکين او رسنيز بنسټونه مکلف دي، د هغو رسنيزو کارکوونکو له کورنيو سره چې د دندې د ترسره کولو په وخت کې شهيد يا معلول کېږي، مالي مرسته وکړي.
(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې مالي مرستې دوراندې کولو ډول په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

**د لايحو، کړنلارو او لارښودونو وضع**

**شلمه ماده:**

کميټه کولی شي د دې مقررې د حکمونو د غوره تطبيق په منظور لايحې، کړنلارې او لارښودونه وضع کړي.

**انفاذ**

**يوويشتمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

(۲) مؤسسين رسانه ها و نهاد های رسانه یی مکلف اند، به خانواده های کارکنان رسانه یی که حین اجرای وظیفه شهید یا معلول می‌گردند، مساعدت مالی نمایند.
(۳) طرز ارائه مساعدت مالی مندرج فقرۀ (۲) این ماده در طرزالعمل جداگانه تنظیم می‌گردد.

**وضع لوایح، طرزالعمل ها و رهنمود ها**

**مادۀ بیستم:**

کمیته می‌تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این مقرره لوایح، طرزالعمل ها و رهنمود ها را وضع نماید.

**انفاذ**

**مادۀ بیست و یکم:**

این مقرره از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می‌گردد.

## د لوړو زده کړو وزارت د دندو د تنظـــيم د مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس حکم

ګڼه: (۳۳۱۲)
نېټه: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

**لومړۍ ماده:**

د لـــوړو زده کـــړو وزارت د دنـــدو د تنظيم مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت دکابينې د ۱۳۹۸/۱۱/۱۰ نېټې د (۱۱) ګڼې مصـــوبې پربنســـټ د (۴) فصلونو او (۲۳) مادو په دننـــه کـــې تصـــويب شـــوې ده، توشـــېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغـــه حکـــم د افغانســـتان اســـلامي جمهوريت د کابينې لـــه مصـــوبې او د نوموړې مقررې له متن سره يو ځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**
**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## حکم رئيس جمهـــورى اسلامـــى افغانستان درمـــورد انفاذ مقـــررۀ تنظيـــم وظايف وزارت تحصيلات عالى

شماره: (۳۳۱۲)
تاريخ: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

**مادۀ اول:**

مقررۀ تنظيم وظايف وزارت تحصيلات عـــالى را کـــه بـــه اســـاس مصـــوبۀ شماره (۱۱) مؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۱۰ کابينۀ جمهورى اسلامى افغانستان بـــه داخـــل (۴) فصـــل و (۲۳) مـــاده تصـــويب گرديـــده اســـت، منظـــور مى‌دارم.

**مادۀ دوم:**

اين حکم همراه بـــا مصـــوبۀ کابينـــۀ جمهورى اسلامى افغانســـتان و مـــتن مقررۀ مـــــذکـــور در جريدۀ رسمى نشرگردد.

**محمد اشرف غنى**
**رئيس جمهورى اسلامى افغانستان**

## د لــوړو زده کــړو وزارت د دنــدو د تنظیم د مقــررې د طرحــې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

ګڼه: (۱۱)

نېټه: ۱۳۹۸/۱۱/۱۰

د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د لــوړو زده کــړو وزارت د دنــدو د تنظــیم د مقــــررې طرحــــه د ۱۳۹۸/۱۱/۱۰ نېټې په خپله غونډه کې، د (۴) فصلونو او (۲۳) مادو په دننه کې تصویب کړه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طــرح مقـــررهٔ تنظیم وظایف وزارت تحصیلات عالی

شماره: (۱۱)

تاریخ: ۱۳۹۸/۱۱/۱۰

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانســتان، طرح مقررهٔ تنظــیم وظــایف وزارت تحصــیلات عـــالی را درجلســـهٔ مؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۱۰خویش به داخل (۴) فصل و (۲۳) ماده مورد تصویب قرار داد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

## مقررۀ تنظیم وظایف وزارت تحصیلات عالی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۷۷ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۷۷ |
| مادۀ سوم: | رعایت اصول | ۷۸ |

### فصل دوم

### وظایف و صلاحیت ها

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | عرصۀ ایجاد مؤسسات تحصیلات عالی | ۷۹ |
| مادۀ پنجم: | عرصۀ بهبود کیفیت برنامه های تحصیلات عالی | ۸۰ |
| مادۀ ششم: | عرصۀ امورعلمی | ۸۱ |
| مادۀ هفتم: | عرصۀ امور محصلان | ۸۳ |
| مادۀ هشتم: | عرصۀ تضمین کیفیت و اعتباردهی | ۸۵ |
| مادۀ نهم: | عرصۀ تفتیش و نظارت | ۸۶ |
| مادۀ دهم: | عرصۀ مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی | ۸۷ |
| مادۀ یازدهم: | عرصۀ مالی، حسابی و تدارکاتی | ۸۹ |
| مادۀ دوازدهم: | عرصۀ ارتباطات | ۹۱ |
| مادۀ سیزدهم: | عرصۀ منابع بشری | ۹۲ |

### فصل سوم

### انسجام اجرای وظایف

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ چهاردهم: | رهبری و انسجام فعالیت ها | ۹۴ |

مادۀ پانزدهم: وظایف و صلاحیت های معینان ........................۹۴
مادۀ شانزدهم: شورای رهبری ..........................................۹۵
مادۀ هفدهم: وظایف شورای رهبری .................................۹۶
مادۀ هجدهم: تدویرجلسات شورای رهبری ...........................۹۷
مادۀ نزدهم: تصامیم شورای رهبری .................................۹۷
مادۀ بیستم: مسؤولیت و پاسخگویی .................................۹۸
مادۀ بیست ویکم: گزارش دهی ............................................۹۸

## فصل چهارم
## احکام نهایی

مادۀ بیست ودوم: مهر و لوگو ............................................۹۸
مادۀ بیست وسوم: انفاذ و الغاء ............................................۹۹

## د لوړو زده‌کړو وزارت د دندو د تنظیم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقـــرره د افغانســـتان اســـلامي جمهوریت د وزارتونـــو د تشـــکیل او دنـــدو د عمـــده اصـــولو د قـــانون د اووه ویشتمې مادې د حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د قانون د واکمنۍ ټینګښت.

۲- د اړوندو ادارو سالمه رهبري.

۳- د لوړو زده‌کړه ییز نظام د ښه والي په برخه کې لوړو زده کـــړو وزارت د فعالیتونو د بهیر تنظیم.

۴- د دولتـــي او خصوصـــي لـــوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د کمي ودې او

## مقررۀ تنظیم وظایف وزارت تحصیلات عالی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقرره به تأســـی از حکـــم مـــادۀ بیست و هفتم قانون اصـــول عمـــدۀ تشـــکیل و وظـــایف وزارت هـــای جمهوری اسلامی افغانســـتان، وضـــع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- تحکیم حاکمیت قانون.

۲- رهبری سالم ادارات مربوط.

۳- تنظیم روند فعالیت هـــای وزارت تحصیلات عالی در خصوص بهبود نظام آموزشی تحصیلات عالی.

۴- فراهم آوری زمینۀ رشد کمـــی و تحقیقـــات علمـــی در مؤسســـات

د علمی څیړنو د زمینې برابرول.
۵- د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون له حکمونو سره سم د کارکوونکو د استخدام او د اداري اصلاحاتو د تطبیق د بهیر ښه والی.
٦- روښتیا او حساب ورکول.

**د اصولو رعایتول**

**درېیمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت د خپلو دندو په اجراء کولوکې لاندې اصول رعایت کوي:

۱- د افغانستان اساسي قانون، د لوړو زده‌کړو د قانون او د نورو تقنیني سندونو حکمونه.
۲- روښتیا او حساب ورکول.
۳- په اړونده کاري برخه‌کې د اغېزمنو او ګټورو خدمتونو وړاندې کول.
۴- د فعالیتونو په ترسره کولو کې له نورو دولتي ادارو سره د همغږۍ تأمینول.
۵- د خدمتونو په وړاندې کولو کې د انډول، تناسب او دنه تبعیض رعایتول.

تحصیلات عالی دولتی و خصوصی.
۵- بهبود روند استخدام کارکنان و تطبیق اصلاحات اداری مطابق احکام قانون کارکنان خدمات ملکی.
٦- شفافیت و حسابدهی.

**رعایت اصول**

**مادهٔ سوم:**

وزارت تحصیلات عالی در اجرای وظایف خویش اصول ذیل را رعایت می‌نماید:

۱- احکام قانون اساسی افغانستان، قانون تحصیلات عالی و سایراسناد تقنینی.
۲- شفافیت و حسابدهی.
۳- ارایهٔ خدمات مؤثر و مثمر در عرصهٔ کاری مربوط.
۴- تأمین هماهنگی در انجام فعالیت ها با سایر ادارات دولتی.
۵- رعایت توازن، تناسب و عدم تبعیض در ارایهٔ خدمات.

## دوه یم فصل

## دندې او واکونه

**د لوړو زده کړو د مؤسسو د رامنځته کولو برخه**

**څلورمه ماده:**

د لوړو زده کړو وزارت د لوړو زده کړو د مؤسسو د رامنځته کولو او پراختیا په برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د ټولنې د اړتیا پر بناء او له پرمختیایي پلان سره سم د لوړو زده کړو د مؤسسو رامنځته کول.

۲- د دولتي او خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسو پراختیا او پرمختیا.

۳- د اختصاصي انستیتونو د رامنځته کولو په هکله د دولتي ادارو د وړاندیزونو بررسي.

۴- د تقنیني سندونو له حکمونو سره سم د اکادمیکي معیارونو د نه رعایتولو په صورت کې د دولتي او خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسو الغاء.

## فصل دوم

## وظایف و صلاحیت ها

**عرصهٔ ایجاد مؤسسات تحصیلات عالی**

**مادهٔ چهارم:**

وزارت تحصیلات عالی درعرصهٔ ایجاد و توسعهٔ مؤسسات تحصیلات عالی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- ایجاد مؤسسات تحصیلات عالی برمبنای نیازهای جامعه و مطابق پلان انکشافی.

۲- توسعه و انکشاف مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی.

۳- بررسی پیشنهادات ادارات دولتی در مورد ایجاد انستیتوت های اختصاصی.

۴- الغای مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی در صورت عدم رعایت معیارهای اکادمیک مطابق احکام اسناد تقنینی.

۵- د دولتي او خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د تأسیس، پراختیا، تجزیې، الحاق، ادغام یا الغاء په منظور واکمنو مقاماتو ته د وړاندیز وړاندې کول.

۶- د دولتي او خصوصي لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د لیسانس، فوق لیسانس او شپنیو برنامو د جواز ورکول.

۷- د اړوندو تقنیني سندونو د حکمونو په ر عایتولو سره د دولتي او خصوصي په ګډون د سیمې او نړې له هېوادونو سره د ګډو لوړو زده‌کړو د مؤسسو د رامنځته کولو په منظور د تدبیرونو نیول.

۸- د دولتي او خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو فعالیتونوڅخه څارنه.

## د لوړو زده‌کړو د برنامو د کیفیت ښه والي برخه

**پنځمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت د لوړو زده‌کړو د برنامو د کیفیت د ښه والي

۵- ارایهٔ پیشنهاد به مقامات ذیصلاح به منظور تأسیس، توسعه، تجزیه، الحاق، ادغام یا الغای مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی.

۶- اعطای جواز برنامه های لیسانس، فوق لیسانس و شبانه در مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی.

۷- اتخاذ تدابیر به منظور ایجاد مؤسسات تحصیلات عالی مشترک، با کشورهای منطقه و جهان اعم از سکتور دولتی و خصوصی با رعایت احکام اسناد تقنینی مربوط.

۸- نظارت از فعالیت های مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی.

## عرصهٔ بهبود کیفیت برنامه های تحصیلات عالی

**مادهٔ پنجم:**

وزارت تحصیلات عالی در عرصهٔ بهبود کیفیت برنامه های

په برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د لوړو زده‌کړو د کمي او کیفي ودې د فرصتونو رامنځته کول.

۲- د اقتصادي او ټولنیزو اړتیاوو د لرې کولو په منظور د علمي څېړنو د سیستم بنسټیز کول او د هېواد د عیني ستونزو حل کول.

۳- د لوړو زده‌کړو د پرمختیا د استراتیژیکي پلانونو طرحه او تدوین.

۴- د تحصیلي نصاب بیا کتنه او د پړاوونو تېرول او د واحد تحصیلي نصاب تطبیق.

۵- د زده‌کړې، علمي څېړنو او د کتابونو د خپرولو په بهیر کې له معلوماتي تکنالوژۍ څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې په منظور د لازمو امکاناتو برابرول.

## د علمي چارو برخه

**شپږمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت د علمي چارو په برخه کې د لاندې دندو او واکونو

تحصیلات عالی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- ایجاد فرصت های رشد کمی و کیفی تحصیلات عالی.

۲- نهادینه سازی سیستم تحقیقات علمی به منظور رفع نیازمندی های اقتصادی و اجتماعی و حل مشکلات عینی کشور.

۳- طرح و تدوین پلان های استراتیژیک انکشاف تحصیلات عالی.

۴- بازنگری و طی مراحل نصاب تحصیلی و تطبیق نصاب واحد تحصیلی.

۵- فراهم آوری امکانات لازم به منظوراستفادۀ مؤثر از تکنالوژی معلوماتی در روند آموزش، تحقیقات علمی و نشر کتب.

## عرصۀ امورعلمی

**مادۀ ششم:**

وزارت تحصیلات عالی در عرصۀ امورعلمی دارای وظایف

لرونکی دی:

۱- د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د علمي او څېړنيزو کادرونو د ظرفيت د لوړولو په منظور د علمي برنامو جوړول.

۲- له دولتي ادارو او له خصوصي سکتور سره په همکارۍ کې له اړتياوو سره سم د تخصصي څانګو تثبيت.

۳- د لوړو زده‌کړو د مؤسسو د علمي کادر د غړو د تحصيلي کچې په لوړولو پورې د اړوندو چارو تنظيم.

۴- د قانون له حکمونو سره سم د لوړو زده‌کړو د مؤسسو د علمي کادر د غړو د ټاکنې، بدلون او انفکاک سمون.

۵- د علمي کادر د غړو د ترفيع منظوري او د علمي رتبې تثبيت.

۶- له هېواد څخه بهر د تحصيلي سندونو په ارزونې پورې د اړوند چارو تنظيم.

۷- د دولتي او خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د پلانونو تأييد او تطبيق.

و صلاحيت های ذيل می‌باشد:

۱- تدوير برنامه های علمی به منظور ارتقای ظرفيت کادرهای علمی و تحقيقاتی در مؤسسات تحصيلات عالی.

۲- تثبيت رشته های تخصصی مطابق نيازمندی ها در همکاری با ادارات دولتی و سکتورخصوصی.

۳- تنظيم امور مربوط به ارتقای سطح تحصيلی اعضای کادرعلمی مؤسسات تحصيلات عالی.

۴- انسجام تقرر، تبدل و انفکاک اعضای کادرعلمی مؤسسات تحصيلات عالی مطابق احکام قانون.

۵- منظوری ترفيع و تثبيت رتبۀ علمی اعضای کادرعلمی.

۶- تنظيم امور مربوط به ارزيابی اسناد تحصيلی خارج از کشور.

۷- تأييد و تطبيق پلان های مؤسسات تحصيلات عالی دولتی و خصوصی.

۸- د فوق لیسانس تحصیلي دورو او زده‌کړه ییزو برنامو ته د لوړو زده‌کړو د مؤسسو د علمي‌کادر د غړو استول.
۹- په ملي او بین المللي کچه د علمي برنامو جوړول.
۱۰- د لوړو زده‌کړو د مؤسسو په علمي مجلو او خپرونو کې د علمي مقالو خپرول.
۱۱- په تقنیني سندونو کې د نورو درج شوو دندو ترسره کول.

## د محصلانو د چارو برخه

اوومه ماده:

د لوړو زده‌کړو وزارت د محصلانو د چارو په برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د لوړو زده‌کړو د مؤسسو د محصلانو د زده‌کړه ییزو پالیسیو طرحه او تدوین.
۲- د لوړو زده کړو د مؤسسو د محصلانو لپاره د معاصرو سیستمونو او د زده‌کړو د نوو چلندونو رامنځته کول.

۸- اعزام اعضای کادرعلمی مؤسسات تحصیلات عالی به دوره های تحصیلی فوق لیسانس و برنامه های آموزشی.
۹- تدویر برنامه های علمی درسطح ملی و بین المللی.
۱۰- نشرمقالات علمی درمجلات و نشریه های علمی مؤسسات تحصیلات عالی.
۱۱- انجام سایر وظایف مندرج اسناد تقنینی.

## عرصهٔ امورمحصلان

مادهٔ هفتم:

وزارت تحصیلات عالی در عرصهٔ امور محصلان دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- طرح و تدوین پالیسی های آموزشی محصلان مؤسسات تحصیلات عالی.
۲- ایجاد سیستم های معاصر و شیوه های جدید آموزش برای محصلان مؤسسات تحصیلات عالی.

۳- د محصلانو د کار زده‌کړې د لابراتوارونو، ورکشاپونو او فرصتونو رامنځته کول او سمبالول.

۴- د ورځینو او شپنیو لوړو زده‌کړو په ډول د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د اشخاصو د جذب د ظرفیتونو د لوړولو په منظور د برنامو طرحه او تطبیق.

۵- د دولتي او خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو د حقوقي کلینیکونو د زده کړو د سیستم پیاوړتیا.

٦- د محصلانو د نظم او دسپلین، د شمولیت د ډول، بدلونونو او انفکاک د لایحو او کړنلارو طرحه او تطبیق.

۷- د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د غوښتونکو د نوم لیکنې یا د بهیر آسانه کول.

۸- د لوړو زده‌کړو د مؤسسو د فارغانو لپاره د معیاري ډیپلومونو او د نمرو د ترانسکریپت چاپول، ساتنه او ویش.

۳- ایجاد و تجهیز لابراتوارها، ورکشاپ ها و فرصت های کارآموزی محصلان.

۴- طرح و تطبیق برنامه ها به منظور بلند بردن ظرفیت های جذب اشخاص درمؤسسات تحصیلات عالی به شکل تحصیلات عالی روزانه و شبانه.

۵- تقویت سیستم آموزش های کلینیک های حقوقی پوهنځی های حقوق و شرعیات مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی.

٦- طرح و تطبیق لوایح، طرزالعمل های نظم و دسپلین، طرزشمولیت، تبدیلی ها و انفکاک محصلان.

۷- ساده سازی روند ثبت نام متقاضیان در مؤسسات تحصیلات عالی.

۸- چاپ، حفاظت و توزیع دیپلوم های معیاری و ترانسکریپت نمرات برای فارغان مؤسسات تحصیلات عالی.

۹- د محصلانو د فرهنگي، ورزشـــي او هنري فعالیتونو د پیاوړتیا په منظـــور د برنامو طرحه او تطبیق.

۱۰- د لوړو زده‌کړو په مؤسســـوکې د محصلانو په خدمتونو پورې له اړوندو فعالیتونو څخه څارنه.

۱۱- د محصلانو په لیلیې پورې لـــه اړوندو چارو څخه څارنه.

**د کیفیت د تضـــمین او اعتبـــار ورکولو برخه**

**اتمه ماده:**

د لوړو زده‌کـــړو وزارت د کیفیـــت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د تقنیني سندونو لـــه حکمونـــو سره سم د لوړو زده‌کړو د مؤسســـو د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په منظور د بورد رامنځته کول.

۲- د منل شوو معیارونو په رعـــایتولو سره د دولتـــي او خصوصـــي لـــوړو زده‌کړو مؤسسې علمي ارزونه.

۳- د کورنیو لوړو زده‌کړو د مؤسسو

۹- طرح و تطبیق برنامه ها به منظور تقویت فعالیت های فرهنگی، ورزشی و هنری محصلان.

۱۰- نظارت از فعالیت های مربوط به خـــدمات محصـــلان در مؤسســـات تحصیلات عالی.

۱۱- نظارت از امور مربوط به لیلیـــهٔ محصلان.

**عرصـــهٔ تضـــمین کیفیـــت و اعتباردهی**

**مادهٔ هشتم:**

وزارت تحصیلات عـــالی در عرصـــهٔ تضمین کیفیـــت و اعتبـــاردهی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- ایجاد بورد به منظـــور تضـــمین کیفیـــت و اعتبـــاردهی مؤسســـات تحصیلات عالی دولتی و خصوصـــی مطابق احکام اسناد تقنینی.

۲- ارزیابی علمی مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی و خصوصی بـــا رعایـــت معیارهای پذیرفته شده.

۳- اعتبـــــاردهی مؤسســـــات

او د بهرنيو تحصيلي مؤسسو اعتبار وركول چې په افغانستان كې فعاليت كوي.

۴- د لوړو زده‌كړو د مؤسسو د علمي چارو له كيفيت څخه ارزونه.

۵- د لوړو زده‌كړو د مؤسسې په هكله د كيفيت د تضمين او اعتبار وركولو د بورد د وروستيو تصميمونو او پرېكړو تطبيق.

۶- د اړوندو دندو د لايحې تصويب.

## د پلټنې او څارنې برخه

نهمه ماده:

د لوړو زده‌كړو وزارت د اكاډميكي پلټنې او څارنې په برخه كې د لاندې دندو او واكونو لرونكى دى:

۱- د دولتي او خصوصي لوړو زده كړو په مؤسسو كې د قوانينو له تطبيق څخه څارنه.

۲- د ملكي لوړو زده‌كړو د قانون له حكمونو سره سم د دولتي او خصوصي لوړو زده‌كړو په مؤسسو كې له

تحصيلات عالی داخلی و مؤسسات تحصيلی خارجی كه در افغانستان فعاليت می‌نمايند.

۴- ارزيابی ازكيفيت امورعلمی مؤسسات تحصيلات عالی.

۵- تطبيق تصاميم و فيصله های نهايی بورد تضمين كيفيت و اعتباردهی در مورد مؤسسۀ تحصيلات عالی.

۶- تصويب لايحۀ وظايف مربوط.

## عرصۀ تفتيش و نظارت

مادۀ نهم:

وزارت تحصيلات عالی در عرصۀ تفتيش و نظارت اكادميک دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می‌باشد:

۱- نظارت از تطبيق قوانين در مؤسسات تحصيلات عالی دولتی و خصوصی.

۲- نظارت از امور اكادميک و تحصيلی در مؤسسات تحصيلات عالی دولتی و خصوصی مطابق احكام قانون

اکادمیکي او تحصیلي چاروڅخه څارنه.

۳- د اکادمیکي او تحصیلي چارو د تقنیني سندونو د حکمونو په رڼا کې په دولتي او خصوصي مؤسسو کې د لوړو زده‌کړو د برخي له کیفیت او معیاري والي څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په منظور د ټاکلو څانگو او کمېټو رامنځته کول او فعالول او له هغو څخه څارنه.

۴- د دولتي لوړو زده‌کړو د مؤسسو له عایداتي تأسیساتو او سرچینو څخه پلټنه.

## د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو برخه

**لسمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو په برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- له تقنیني سندونو سره سم د خصوصي لوړو زده‌کړو مؤسسو ته د تأسیس د جواز صادرول.

تحصیلات عالی ملکی.

۳- ایجاد و فعال نمودن شعبات و کمیته های معین به منظورحصول اطمینان از کیفیت و معیاری بودن عرضهٔ تحصیلات عالی در مؤسسات دولتی و خصوصی، در روشنی احکام اسناد تقنینی امور اکادمیک و تحصیلی و نظارت از آن.

۴- تفتیش از تأسیسات و منابع عایداتی مؤسسات تحصیلات عالی دولتی.

## عرصهٔ مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی

**مادهٔ دهم:**

وزارت تحصیلات عالی در عرصهٔ مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- صدور جواز تأسیس به مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی مطابق اسناد تقنینی.

۲- له تقنيني سندونو سره سم د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د اکادميکي چارو د لارښودو صادرول.
۳- د خصوصي لوړو زده‌کړو په مؤسسو پورې د اړوندو تقنيني سندونو تطبيق.
۴- په اړوندو تقنيني سندونو کې د تعديل، ايزاد يا حذف د طرحې وړانديز.
۵- د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو له اکادميکي، مالي او اداري چارو څخه څارنه.
٦- د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د تحصيلي نصابونو او د علمي کادر د غړو د ټاکنې او ترفيع او د ساختمانونو د تجهيزاتي معيارونو، د محصلانو د جذب بهير، فراغت او ديپلوم د ويش او د نمرو د ترانسکرپيت د پړاوونو تيرول او د هغو تأييد.
۷- د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو او د وزارت په کورنيو کمېټو کې د استادانو، استازو او د هغو د متخصصينو د غړيتوب څارنه، ملاتړ،

۲- صدور رهنمود های امور اکادميک مؤسسات تحصيلات عالی خصوصی مطابق اسناد تقنينی.
۳- تطبيق اسناد تقنينی مربوط به مؤسسات تحصيلات عالی خصوصی.
۴- پيشنهاد طرح تعديل، ايزاد يا حذف در اسناد تقنينی مربوط.
۵- نظارت از امور اکادميک، مالی و اداری مؤسسات تحصيلات عالی خصوصی.
٦- طی مراحل نصاب های تحصيلی، تقرر و ترفيع اعضای کادرعلمی و معيارهای تجهيزاتی ساختمان ها، روند جذب محصلان، فراغت و توزيع ديپلوم ، ترانسکريپت نمرات مؤسسات تحصيلات عالی خصوصی و تأييد آن.
۷- نظارت، حمايت، ارتقای کيفيت و اعتباردهی مؤسسات تحصيلات عالی خصوصی، عضويت اساتيد، نماينده ها و متخصصين آنها در کميته های داخلی

د کیفیت لوړول او اعتبار ورکول.

۸- د اکادمیک تقنیني سندونو په تدوین کې د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د نظریو او لیدلورو راټولول.

۹- د معیاري او په کیفیت سره د تحصیلي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو له فعالیتونو څخه څارنه.

**مالي، حسابي او تدارکاتي برخه**

**یوولسمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت په مالي، حسابي او تدارکاتي برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د اړوند مالي چارو تنظیم او اداره.

۲- د اړوندې بودجې ترتیب او د هغې لګښت.

۳- د جنسونو او خدمتونو د برابرولو او تدارک د چارو تنظیم.

۴- د پلټنې ریاست په واسطه تر اغېزې لاندې ادارو د مالي او حسابي چارو پلټنه.

وزارت.

۸- جمع آوری نظریات و دیدگاهای مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی در تدوین اسناد تقنینی اکادمیک.

۹- نظارت از فعالیت های مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی در جهت ارایۀ خدمات تحصیلی معیاری و با کیفیت.

**عرصۀ مالی، حسابی و تدارکاتی**

**مادۀ یازدهم:**

وزارت تحصیلات عالی در عرصۀ مالی، حسابی و تدارکاتی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- تنظیم و ادارۀ امورمالی مربوط.

۲- ترتیب بودجۀ مربوط و مصرف آن.

۳- تنظیم امور تهیه و تدارک اجناس و خدمات.

۴- تفتیش امور مالی و حسابی ادارات تحت اثر، توسط ریاست تفتیش.

۵- د دولتي لوړو زده‌کړو د مرکــزي ادارو او مؤسسو مالي او بودجوي اړتیا سنجونه.

٦- د پروژو د تعدیل د ارزونې او کار پېژندنې په منظور د هیئت د ټاکنې پــه برخه کې لازم اجراآت.

۷- د قراردادونو د عقد له معیــاري سیستم (ACPMS) څخه څارنه.

۸- د روغتیا ساتنې، د کار د شرایطو او د خوندیتوب د اساســاتو د جــدي رعایت د ښه والي لپــاره د تــدبیرونو او د ایمني تدبیرونو نیول.

۹- د خپرونــــو، بروشـــــورونو او د پوسترونو د تولید او د سترو غونډو د جوړولو د بهیر آسانه کول.

۱۰- د تقنیني سندونو د حکمونو پــه رڼا کې د اغېزمنې ګټې اخیستنې لپاره د بهرنیو سرچینو او د وړیا مرستو لــه تأدیاتو څخه څارنه.

۱۱- د وزارت او د اړوندو مؤسسو له عایداتي سرچینو څخه څارنه، مراقبت او د ډاډ ترلاســـه کــول او د عوایــدو د لوړولو په منظور د دولتــي واحــد

۵- نیازسنجی مالی و بودجوی ادارات مرکزی و مؤسسات تحصیلات عــالی دولتی.

٦- اجراآت لازم در زمینهٔ گــزینش هیئت به منظور ارزیابی و کارشناســی تعدیل پروژه ها.

۷- نظارت از سیستم معیاری عقــد قراردادها (ACPMS).

۸- اتخــاذ تــدابیر جهــت بهبــود حفظ الصحه، شرایط کار و رعایــت جدی اساسات مصــونیت و تــدابیر ایمنی.

۹- تسهیل رونــد تولیــد نشــرات، بروشــورها و پوســترها و تــدویر همایش های بزرگ.

۱۰- نظارت از تأدیات منابع خارجی و کمک های بلا عوض جهت استفادهٔ مــؤثر در روشــنی احکــام اســناد تقنینی.

۱۱- نظارت، مراقبــت و حصــول اطمینان از منــابع عایــداتی وزارت و مؤسسات مربوط و انتــــقال آن بــه حساب واحد دولتی به منظور ارتقــای

حساب ته د هغو لیږدونه.

د اړیکو برخه

دوولسمه ماده:

د لوړو زده‌کړو وزارت د اړیکو په برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د علمي اړتیاوو، بشري ځواک او د دولتي او خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د فعالیتونو د ودې په هکله د لازمو ارقامو او معلوماتو د ترلاسه کولو په منظور له وزارتونو او دولتي او خصوصي ادارو سره د متقابلو اړیکو تأمینول.

۲- د تحصیلي بورسونو د ترلاسه کولو او د نورو علمي فعالیتونو په منظور د بهرنیو چارو له وزارت سره په همکارۍ کې له بهرنیو هېوادونو سره د علمي، تخنیکي او فرهنګي اړیکو تنظیمول.

۳- د لوړو زده‌کړو د سیستم د پیاوړتیا لپاره د همکارۍ د ودې او پراختیا په منظور د تدبیرونو نیول.

عواید.

عرصهٔ ارتباطات

مادهٔ دوازدهم:

وزارت تحصیلات عالی در عرصهٔ ارتباطات دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تأمین روابط متقابل با وزارت ها، ادارات دولتی و خصوصی به منظور دریافت ارقام و معلومات لازم پیرامون نیازهای علمی، نیروی بشری و رشد فعالیت های مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی.

۲- تنظیم روابط علمی، تخنیکی و فرهنگی با کشور های خارجی در همکاری با وزارت امورخارجه به منظور دریافت بورسیه های تحصیلی و سایر فعالیت های علمی.

۳- اتخاذ تدابیر به منظور رشد و توسعهٔ همکاری در جهت تقویت سیستم تحصیلات عالی.

۴- د قانون له حکمونو سره سم لــه کورنيو او بهرنيو اکاډميکي بنســتونو سره د اکــادميکي هــوکړه ليکونــو لاس ليک کول.

۵- د علمي اړيکو د رامنځته کولو او پراختيا په غرض له هېوادونو، بنستونو او د هغوي له قانوني اســتازو ســره ملاقات او خبرې.

٦- د رسمي سفرونو د پروسې تنظيم او آسانول او په علمي برنامو او رسمي سفرونو کې د لوړو زده‌کــړو وزارت د کارکوونکو ګډون.

۷- په تحصيلي بورســونو پــورې د اړوندو چارو تنظيم.

۸- د لوړو زده‌کړو د مؤسســو پــه موافقې سره له بهرنيــو هېوادونــو او د لوړو زده‌کړو لــه مؤسســو ســره د تحصيلي بورسونو د ورکړې د اړتيا او امکان بررسي.

## د بشري سرچينو برخه

### ديارلسمه ماده:

د لــوړو زده‌کــړو وزارت د بشــري

۴- امضـــای تفـــاهم نامـــه هـــای اکادمیک با نهاد های اکادمیک داخلی و خـــــارجی مطـــــابق احکـــــام قانون.

۵- مذاکره و ملاقات با کشـــورها، نهاد ها و نمایندگان قـــانونی آن هـــا غرض ایجاد و گســـترش ارتباطـــات علمی.

٦- تنظیم و تسهیل پروسهٔ ســـفرهای رسمی و اشـــتراک کارکنـــان وزارت تحصیلات عالی در برنامه های علمی و سفرهای رسمی.

۷- تنظیم امور مربوط به بورسیه های تحصیلی.

۸- بررسی ضرورت و امکان اعطای بورسیه های تحصیلی با کشـــورها و مؤسسات تحصیلات عالی خارجی به موافقـــهٔ مؤسســـــات تحصـــیلات عالی.

## عرصهٔ منابع بشری

### مادهٔ سیزدهم:

وزارت تحصیلات عالی در عرصهٔ منابع

سرچینو په برخه کې د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د ملکي خدمتونو د قانون له حکمونو سره سم د اهلیت او وړتیا په پام کې نیولو سره د اړتیا وړکارکوونکو بشپړول.

۲- د ملکي خدمتونو د قانون له حکمونو سره سم له کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو د برنامې طرحه او تطبیق او د چارو د ښه والي لپاره د کارکوونکو د بدلون په هکله د تصمیم نیول.

۳- د لوړو زده کړو په وزارت کې د جنسیتي برابرۍ او عدالت د بنسټیز کولو لپاره هڅه.

۴- د اړوندو وسایلو، ماشین آلاتو او تجهیزاتو چمتوکولو، فعالولو او کارولو په منظور د ماهرو او مسلکي کارکوونکو استخدام.

۵- دبشري سرچېنو دعلمي کادر د غړو اوکارکوونکو دظرفیت او اغېزمنتوب د لوړولو په منظور د فعالیتونو پرمختیا.

بشری دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- اکمال کارکنان مورد نیاز با نظرداشت اهلیت و شایستگی مطابق احکام قانون کارکنان خدمات ملکی.

۲- طرح و تطبیق برنامه های ارتقای ظرفیت کارکنان با استفاده از منابع داخلی و خارجی و اتخاذ تصمیم درمورد تبدیلی کارکنان جهت بهبود امور مطابق احکام قانون کارکنان خدمات ملکی.

۳- تلاش در جهت نهادینه ساختن برابری و عدالت جنسیتی در وزارت تحصیلات عالی.

۴- استخدام کارکنان ماهر و مسلکی به منظور آماده ساختن، فعال نمودن و بکار انداختن وسایل، ماشین آلات و تجهیزات مربوط.

۵- انکشاف فعالیت ها به منظور ارتقای ظرفیت و مؤثریت اعضای کادرعلمی و کارکنان منابع بشری.

## دریيم فصل

## د دندو د اجراء سمون

### د فعالیتونو رهبري او سمون

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو وزارت رهبري او د هغه د دندو د اجراء سمون د لوړو زده‌کړو د وزیر پرغاړه دی چې د قانون له حکمونو سره سم خپل واکونه عملي کوي.

(۲) د لوړو زده‌کړو وزارت په ولایتونو کې اړوندې دندې د اړوند ریاستونو له لارې عملي کوي.

(۳) د لوړو زده‌کړو وزارت د وزارت د مقام د دفتر او د بهرنیو اړیکو د ریاستونو له لارې له وزارتونو، دولتي ادارو او بین المللي مؤسسو سره، محوله چارې تنظیم او همغږي کوي.

### د معینانو دندې او واکونه

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د لوړو زده‌کړو وزیر، د لوړو زده‌کړو وزارت د معینانو د دندو او واکونو حدود د هغوی

## فصل سوم

## انسجام اجرای وظایف

### رهبری و انسجام فعالیت ها

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) رهبری وزارت تحصیلات عالی و انسجام اجرای وظایف آن به عهدۀ وزیر تحصیلات عالی می‌باشد که مطابق احکام قانون صلاحیت های خود را اعمال می‌نماید.

(۲) وزارت تحصیلات عالی وظایف مربوط را در ولایات از طریق ریاست های مربوط اعمال می‌نماید.

(۳) وزارت تحصیلات عالی از طریق ریاست های دفترمقام وزارت و ارتباط خارجه با وزارت ها، ادارات دولتی و مؤسسات بین المللی، امور محوله را تنظیم و همآهنگی می‌نماید.

### وظایف و صلاحیت های معینان

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) وزیر تحصیلات عالی، حدود وظایف و صلاحیت های معینان وزارت تحصیلات عالی را با نظرداشت

د وظيفوي څانګړنو په پام کې نيولو سره ټاکي.

(۲) د وزير په غياب کې د هغه دندې او واکونه د هغه معين په واسطه عملي کېږي چې ورته واک ورکړل شوی وي.

## د رهبرۍ شوري

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د اړوندو ادارو د فعاليتونو د سمون په منظور، د لوړو زده‌کړو په وزارت کې د رهبرۍ شوري رامنځته کېږي.

(۲) د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ شوري جوړه شوې ده له:

۱- وزير د رئيس په توګه.

۲- معينان، د وزا رت علمي سلاکار او د مرکزي دولتي پوهنتونونو رئيسان د غړو په توګه.

۳- د وزارت د مرکزي ادارو رئيسان او حقوقي مسؤول د غړو په توګه.

۴- د دفتر رئيس د منشي په توګه.

خصوصيت وظيفوی آن ها تعيين می‌نمايد.

(۲) در غياب وزير وظايف و صلاحيت های وی توسط معينی اعمال می‌گردد که به وی تفويض صلاحيت شده باشد.

## شورای رهبری

**مادهٔ شانزدهم:**

(۱) به منظور انسجام فعاليت های ادارات مربوط، شورای رهبری در وزارت تحصيلات عالی ايجاد می‌گردد.

(۲) شورای رهبری وزارت تحصيلات عالی متشکل است از:

۱- وزيربه حيث رئيس.

۲- معينان، مشاورعلمی وزارت و رؤسای پوهنتون های دولتی مرکزی به حيث اعضاء.

۳- رؤسای ادارات مرکزی و مسؤول حقوقی وزارت به حيث اعضاء.

۴- رئيس دفتربه حيث منشی.

## د رهبرۍ شورې دندې

**اوولسمه ماده:**

د رهبرۍ شورې د لاندې دندو لرونکې ده:

۱- د لوړو زده‌کړو وزارت د پالیسۍ، استراتیژۍ او برنامو تصویبول.

۲- د هغو موضوعگانو بررسي چې د وزارت مقام هغې ته محولوي او په دې هکله تصمیم نیول.

۳- د لوړو زده‌کړو په وزارت پورې د اړوندو ادارو د لایحو او کړنلارو تصویبول.

۴- د لوړو زده‌کړو په وزارت پورې د اړوندو ادارو د فعالیتونو د رپوټونو اورېدل.

۵- د لوړو زده‌کړو وزارت په اجراآتو پورې د اړوندو شکایتونو بررسي.

۶- د فعالیتونو د همغږۍ او د کاري پروسو د گړندي کولو او آسانولو لپاره د اړوندو سندونو د دقیقې کار پېژندنې په منظور د وزارت د معینیتونو په

## وظایف شورای رهبری

**مادۀ هفدهم:**

شورای رهبری دارای وظایف ذیل می‌باشد:

۱- تصویب پالیسی، استراتیژی و برنامه های وزارت تحصیلات عالی.

۲- بررسی موضوعاتی که مقام وزارت به آن محول می‌نماید و اتخاذ تصمیم در مورد.

۳- تصویب لوایح و طرزالعمل های ادارات مربوط وزارت تحصیلات عالی.

۴- استماع گزارش فعالیت های ادارات مربوط وزارت تحصیلات عالی.

۵- بررسی شکایات مرتبط به اجراآت وزارت تحصیلات عالی و اتخاذ تصمیم در زمینه.

۶- ایجاد کمیته ها، کمیسیون ها درچوکات معینیت های وزارت به منظورهمآهنگی فعالیت ها و کارشناسی دقیق اسناد مرتبط در جهت

چوکاټ کې د کمېټو، کمېسيونونو رامنځته کول.

**د رهبرۍ شورۍ غونډو جوړېدل**

**اتلسمه ماده:**

(۱) د رهبرۍ شورۍ عادي غونډې په هرو پنځلسو ورځوکې يوځل جوړېږي او د هغې فوق العاده غونډې د لوړو زده کړو د وزير په تصميم يا د رهبرۍ شورۍ له غړو څخه د يوه په وړانديز او د وزير په منظورۍ جوړېدای شي.

(۲) د رهبرۍ شورۍ غونډې د هغې د غړو د اکثريت په شتون جوړېږي.

**د رهبرۍ شورۍ تصميمونه**

**نولسمه ماده:**

(۱) د رهبرۍ شورۍ تصميمونه د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت نيول کېږي او د رأيو د برابرۍ په صورت کې هغه لوري چې وزير رأيه ورکوي، د اعتبار وړ دی.

(۲) د رهبرۍ شورۍ تصميمونه د وزير له منظورۍ څخه وروسته

تسريع و تسهيل پروسه های کاری.

**تدويرجلسات شورای رهبری**

**مادۀ هجدهم:**

(۱) جلسات عادی شورای رهبری در هرپانزده روز يکبار داير می‌گردد و جلسات فوق العادۀ آن به تصميم وزير تحصيلات عالی يا پيشنهاد يکی از اعضای شورای رهبری و منظوری وزير داير شده می‌تواند.

(۲) جلسات شورای رهبری با حضور داشت اکثريت اعضای آن داير می‌گردد.

**تصاميم شورای رهبری**

**مادۀ نزدهم:**

(۱) تصاميم شورای رهبری به اکثريت آرای اعضای حاضراتخاذ می‌گردد و در صورت تساوی آراء، به طرفی که وزير رأی ميدهد، مدار اعتبار است.

(۲) تصاميم شورای رهبری بعد از منظوری وزير به تمام ادارات مربوط

د لوړو زده‌کړو وزارت تړلو اړونـــدو ادارو ته تکثير او مرعي الاجراء دي.

## مسؤوليت او ځواب ورکول

**شلمه ماده:**

د لـــوړو زده‌کـــړو وزيـــر د وزارت د دندو له اجراء او نه اجـــراء څخـــه مسؤول او ځواب ورکـــوونکی دی، معينانو او د مرکزي او ولايتـــي ادارو رئيسان او آمران د محوله دنـــدو پـــه پرمخبيولو کې، فردي مسؤوليت لري.

## رپوټ ورکول

**يوويشتمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت مکلف دی له خپلو اجراآتـــو او فعـــاليتونو څخـــه حکومت ته رپوټ وړاندې کړي.

## څلورم فصل

## وروستي حکمونه

## مهر او لوګو

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د لوړو زده‌کـــړو وزارت د مهـــر لرونکی دی چې په هغه کې د افغانستان

وزارت تحصـــيلات عـــالی تکثيـــر و مرعی الاجراء می‌باشد.

## مسؤوليت و پاسخگويی

**مادۀ بيستم:**

وزير تحصيلات عالی از اجراء و عدم اجرای وظـــايف وزارت مســـؤول و پاسخگو بوده، معينان، رؤسا و آمرين ادارات مرکزی و ولايتی در پيشـــبرد وظايف محوله، مســـؤوليت فـــردی دارند.

## گزارش دهی

**مادۀ بيست و يکم:**

وزارت تحصيلات عالی مکلف است از اجراآت و فعاليت های خـــويش بـــه حکومت گزارش ارائه نمايد.

## فصل چهارم

## احکام نهايی

## مهر و لوگو

**مادۀ بيست و دوم:**

(۱) وزارت تحصيلات عـــالی، دارای مهر بوده کـــه در آن نشـــان دولـــت

اسلامي جمهوري دولتي نښان او د لوړو زده‌کړو وزارت نوم درج دی.
(۲) د لوړو زده‌کړو وزارت د لوګو لرونکی دی چې په اړوندو رسمي سندونو کې هغه کاروي.

انفاذ او الغاء

دروېشتمه ماده:

دغه مقرره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي او د ۱۳٦۰ هـ.ش کال په (۵۰۱) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د لوړو او مسلکی زده‌کړو وزارت د اجراآتو او فعاليتونو د تنظيم مقرره لغوکېږي.

جمهوری اسلامی افغانستان و اسم وزارت تحصیلات عالی درج می‌باشد.
(۲) وزارت تحصیلات عالی دارای لوگو می‌باشد که در اسناد رسمی مربوط آنرا استعمال می‌نماید.

انفاذ و الغاء

مادۀ بیست و سوم:

این مقرره از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می‌گردد و مقررۀ تنظیم اجراآت و فعالیت های وزارت تحصیلات عالی و مسلکی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۵۰۱) سال ۱۳٦۰هـ.ش لغو می‌گردد.

## اشتراک سالانه:

درمرکز وولایات: (۱۰۰۰)افغانی

برای مامورین دولت: با (۲۵) فیصد تخفیف

بـــرای متعلمین ومحصلین با ارائـــه تصدیق،نصف قیمت

برای‌کتاب فروشی‌ها با۱۰فیصد تخفیف ازقیمت‌روی جلد

خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکائی.

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- **Law on Scientific Medical Specialized Cadre**
- **Amendment and Addition to some Articles of the Law on Civil Higher Educations**
- **Regulation on Media and Government Joint Committee**
- **Regulation on Duties of Ministry of Higher Educations**

**Date:26th March.2020**
**ISSUE NO:(1374)**